# اجتماعي نظريات

د

ګل پاچا الفت

Ketabton.com

www.ulfat.de

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| فکر | 1 |
| کاراوعمل | 5 |
| له کار سره علاقه | 8 |
| عقیده | 9 |
| اخلاق | 10 |
| تعلیم او تربیت | 12 |
| دقضاوت شعور | 13 |
| ذوق | 14 |
| خیال | 15 |
| عشق او حرص | 16 |
| دمشرانو عشق | 18 |
| یوازېتوب | 20 |
| زه او ته | 21 |
| سترګې مه پټوئ! | 22 |
| دزمانې تغیر | 24 |
| برابرنه دی | 25 |
| داسلام درد منو! | 26 |
| دسبا فکر | 27 |
| پخوانی ډیوې | 27 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

# فکر

په هغه تورتم کښې چې شعور او احساس د ړندو په شان امسا ټکوي. هلته چه د شرق و غرب امتياز نشي کېدای او هرڅه مجهوله وي. په هغه ځای کښې چې د اسمان ستوري چاته لوری او لودن نه ښئې او سترګه په سترګه نه ښکاري.
په هغه وخت کښې چې بې له حيرت او ابها مه بل هيڅ شی نه وي موجود او دقبلې پته نه وي معلومه، سړی به کومې خواته درېږي؟ او کوم لوري ته به سجده کوي؟
په دغسې حا ل کې انسان مکلف دی چه فکر به کوي او هرې خواته چه فکر رهبري وکړه هماغه طرف ته به مخ اړوي او خدای(ج) ته به لاس په نامه درېږي.
په دغه وخت کښې که دی لمر خا ته خواته ولاړ وي ده ته دلمر بنده نه ويل کېږي بلکه دقبلې اهل باله شي.
دده قبله او کعبه په دغه حا ل کښې دمشرق (١) په لوري انتقا ل کوي او په دغسې مواقعو کښې چې انسان هرې خواته دفکر په نغوته مخ واړوي دلوی ښتن مخ هماغه لور وي او د خدای کور هماغلته بويه.
په دغه شان موقف کښې که ځلورتنه ځلورو خواو ته د خپل فکر په اشاره او اجازه مخه کړي او ددوه تنو فکر هم په يوه خوا اتفاق ونه کړي، ځلور واړه داسې مثا ل لري لکه چه کعبه په مينځ کښې وي او هريوه يې يوه ديوا ل ته مخامخ ولاړوي.
دلته منطق اوبرهان سړي ته په يقين سره داوايي چې په دې ځلورو وتنو کښې که يوه د قبلې لوری موندلی وي، درې نور خو ارومرو په بله خوا ولاړ دي او غوليدلي دي مګر پاك خدای د ځلورو واړو مختلف او مخالف فکرونه پخپل دربارکښې قبلوي او ديوه لمونځ هم له قبلې نه چپ نه ګڼي.
دلته منطقی قياس د درو تنو په غلطوالی قطعي حکم کوي او په احتمالی ډول ديوه تن دفکر او رای په صحت قايلېږي ځکه چې که دغه ځلورتنه، شرق وغرب، جنوب او شما ل ته نه وي ولاړ بلکه په ځلورو کنجونو دربدلی وي ټو ل په غلطه ولاړدي او يوه هم صحيح لوری نه دی موندلی مګردغه علمي اوعقلي فيصله سره له دغه برهانه اعتبار نه لري او د هريوه فکر حق ګڼل کېږي ځکه چې په دغه حين کښې له انسان سره بې له فکر کولو او تحری څخه بله وسيله نشته او هيڅ يو د بل د فکر په منلواو قبلولو نه دی مکلف، که په دوی کښې يوتن ډېر هوښياروي هغه نور د خپل فکرپه پيروی نشي مجبورلی او نه هغه بل داکولی شي چه ده ته به يوه خوا حقه معلومېږي اوسره له دې به د بل په فکر پسې درومي اوکعبه به د بل په نظرګوري.
دلته د هريوه فکري او عقلي تکليف همدغه دی چه پخپله فکر وکړي او له خپل فکرنه کار واخلي.
په اسلام کښې د ځلورو مذهبونو حقانيت په همدغه اساس بنادی او هغه فکری اختلاف چه د ځلورو امامانو مينځکښې موجود دی د هېڅ يوه دفکر حقانيت نه سلبوی.
له دينه انکار کېدای نشي چې دانسان فکر قاصر اوضعيف دی، دده په نظرکښې يوشی په بل راز معلومېږي په ډېرو شيانوکښې انساني فکر غولېږي، سهوه کېږي او غلطېږي مګرسره له دې لوی خدای پخپل حق اوصحيح کتاب کښې هرهر ځای انسان ته دتفکر او تعقل امرکوی او هغه څوک چې فکر نه کوي ملامت بولي.

(١) دلته د افغانستان د قبلې لوری په نظر کې نيول شويدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدغه ځایه مونږ دفکر د ازادۍ په ضرورت پوهېدلی شو او په اجتماعی مسایلوکښې فکرکول اوفکرښکاره کول يو ډېرضروری امرګڼو.
مونږ باید فکر او د فکر خاوندانو ته موقع ورکړو چې خپل کاروکړی او خپله وظیفه په ازادانه ډول اجرا کړي.
دنن ورځې دیموکراسي هم انسان ته همدغه توصیه کوي چې هرڅوک باید خپل اجتماعي افکار او نظریات څرګند کړي او فکر ونه مختنق نشي.
که څوک کوم نا اشنا او نوی فکرښکاره کوی څوک دا حق نه لري چې هغه له ستونی کلک ونیسي اوملامت يې کړي ځکه چې هرفکر اورمرو حق نه وي او حق ته نشي رسیدلی، هر سړی په دې مکلف هم نه دی چه هر ګوره به پخپل فکرکښې حقیقت ته ځان رسوي اوهیڅکله به نه سهوه کېږي، مګر دا د هر یوه وظیفه ده چه فکر به کوي او حقیقت به لټوي.
مونږ به فکرکوو او په حقایقو پسې به ګرزو که ورسېدو دوه اجره دي او که سهوه شوو نو فکرکو ل پخپله یوښه کاردی او انسان له غفلته پرې خلاصیږي.
د دنیا ډېرلوی مفکرین اومشهورپو هان ډېر ځله پخپل فکر کښی سهوه شوي او غلط افکار ورځنې پاته دي چه انسان دبدبختی خواته روانوی مګرسره له دې دفکر ازادی یو ضروري امردی.
که څوک ووائي چې انسانانو په دنیاکښې ډېر بدبد کارونه وکړه او ډېر ضررونه او فسادونه یې انساني جوامعوته ورسول، راځئ چه دغه نسل قطع کړو او انسان پرې نږدو چه دې دنیاته راشي دا خبره عیناً داسی معلومېږي لکه چه سړی دفکر غلطی او اضرار په نظرکښې نیسي او د فکر آزادي سلبوي.
دوی دومره فکر نه کوي چې دانسانی جوامعو ورکول ددی دپاره چې دوی ته ضرر ونه رسېږی یا دوی چاته ضررونه رسوي څومره غلطه خبره ده.
دفکر مختنق کول او محوه کول دانسانیت په ستونی پښې اېښودل او انساني جامعه د حیوانیت خواته رابلل دی.
مونږ بایدفکر وکړو او بې فکره نشو، دفکر ازادي که د خاینانو، غدارانواوریا کارانو دپاره ضررلری دیوه ملت دپاره ډېرمفید معلومېږي او دسړیتوب ترقی ورپوری موقوفه ده.
که فکرونه آزاد شي او هرڅوک خپل نظریات ښکاره کړی شي مفکرین او فکری مشغله پیداکېږي دغه دمملکت مهم مسائل چې اوس په کښې فکرونه ګنګس اوحیران دی او د مشکلاتو علاج رانه ورک دی اصلی علت یې همدغه دی چې په کلونو کلونو فکرونه ایسار شوي او مختنق شویدي، له دغسی محبوس او مقید فکرنه د حل لاره غوښتل هېڅ معنی نه لري.
مونږ اوس پخپل مملکت کښې لوی لوی خلق لرو او عالمان هم شته مګر دفکر خاوندان ورته نشوویلی ځکه چې دوی فکر نشوکولی اوفکر یې نشو ښکاره کولی. دلته دتفکر مشق او تمرین چانه دی کړی او ددې ورزش دپاره خلق نه دي تربیه شوي، دلته ډېرو پو هانو دډېرو ناپوهوخلقو خبروته ښه ویلي او د دې په ځای چه څوک له چانه فکروغواړي کورکورانه تسلیم اواطاعت غوښتل شویدی، پدې ځای کښې پوهان مجبور شوي دي چه ددین او مذهب مخالف ته ددین حامی ووائي اوتل دزورورو فکروستائي، څوکاله دمخه چاپدی هېواد کښې ښو ته ښه او بدو ته بدنشو ویلی، څوک چه دفکر اوراېي خاوندان بلل کېده په زندانو نوکښې واچول شوه اوفکرونه پکښې مضمحل شوه اوس دنیا بل راز شوه او ددې عصر کارونه له مونږ نه فکر غواړي او دپخوفکرونو تقاضاکوي، مونږ اوس مجبوریوچه فکراو د فکر خاوندان پیداکړو یعنی دفکرکولو مشق اوتمرین وکړو، ددې مشق دپاره میدان اوغولی په کاردی چه هغه جراید اومطبوعات دي مطبوعات باید ازاد وی او ازاد فکرونه پکښې ځای پیداکړي پدې کارکښې ډېرې فایدې دي او دغه ازادی زمونږ دپاره ډېره ضرورده اوس زمونږ په مغزوکښې فکرونه وچ شوي او لکه هغه جنین چه ډېره موده د مورپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګېډه کښې مړیاته شي او نشي متولد کيدای مونږ هم دفکرپه تولید قادر نه یو، که چیرې دجرایدو او مطبوعاتو ازادی دیوه قانون له مخی پیداشوه له دماغونونه به څه وزیري اوسرګرداني به ورکه شي.
هریوبه دخپل فکر په صحت او غلطی پوه شي ځکه چه فکر ازادشي انتقاد هم ازادېږي او هرڅوک ښو ته ښه او بدوته بدویلی شي.
دغه دفکرمشق اوتمرین به په فکر کښی قوت او رشد پیداکړی، زمونږ مفکرین به په اجتماعیاتو، اقتصادیاتو اوسیاسیاتوکښې سمې اوصحیح لارې وموميي اوزمونږ مشکلات به خدای( ج) حل کاندي.
مونږ به دسمو او صحیح فکرونو قدر وکړو او دفکر خریداران به په وطن کښې پیداشي، مفکرین به علم اوعرفان ته راغب شي چه دعلمی تتبعاتو په رڼا کښې ښه فکرونه وموميي اوښې لارې وپلټي. .
که فکر ازاد شو هرڅوک به دخپل حق مطالبه وکړي او خپل حق به وغواړي.
عدالت په همدغه وسیله په یوه مملکت کښی قایمېدلی شي اومظالم ورکېږي مونږ باید مظلوم ته داحق ورکړو چه دظالم ظلم اود خاین خیانت بیان کړي او حق وویلی شي، همدغه شی دفکر ازادي بلل کېږي او ډېر اصلاحات پرې مرتب کېدلی شي، که فکر ازاد شو دلته به اخلاقی شجاعت اواسلامي جرئت او حقانیت پیداشی بیا به ظالمان ددغومره ظلم او خاینان ددغومره خیانت جرئت نشی کولی او هرڅوک به خپله چاره په اوبوکښې ويني.
فکر او قلم چه هر څومره ازاد شي هغومره اعما ل اوافعا ل مقید کېږي او قوانین تطبیق پیداکوي یعنی له اصولو اوقوانینو نه خلاف څوک څه نشي کولی او هرسړی پخپل عمل اوکردار کښی محتاط وي.
په هرځای کښې چه ښوته ښه اوبدوته بد نه ویل کېږی هلته ښه اوبد مشتبه کېږي او امتیاز يې له منیځه ځي، په دغسی ځایوکښې دظلم او خیانت دپاره زمینه مساعده کېږي او عدالت مري، دهمدی لامله په اسلام کښی حق ګوئي اوظالمانو ته حق ویل ډېر لوی عبادت اوفضلیت ګڼل شوی او له هرڅه نه زیات اجراو ثواب لري.
داسلام په ارکانو کښی دژبې اقرار او دزړه تصدیق دواړه ضرور ګڼل شوی او ددی خبرې همدغه معنی ده چه باېد سړی خپل عقاید او افکار ظاهر کړي او دافکارو د اظهار دپاره زمینه مساعده کړي. هغه څه چه په زړه کښې وي او په خوله نه ویل کېږي محوه کېږي او مري، همدغه وجه ده چه په غیردیموکراسی مملکت کښې افکار او نظریات نشوونمانشي کولی او دفکر خاوندان نه پیداکېږي.
ددیموکراسۍ او دکتاتورۍ په بحث کښې ځینې پوهان وائي په دابتدائی اوبې علمه ملتونو کښې یو ښه دکتاتورپه کاردی چه پخپل فکراوخپله اراده د مملکت دپاره کاروکړي او بې له دېنه چه دچافکر ته وګوري اوله چانه فکر واخلي پخپله نظریه روان شي او پیشرفت وکړي، دوی پخپل بیان کښې دایو شرط زیاتوی، چه دکتاتورباید دځان دپاره کارونکړي اووطن خواه و ملت خواه یوسړی وی ددې نظریې خاوندان دلایل هم لری اووائي په کوم هیواد کښې چه عمومي فکر ړوند اوکوڼ وي، دخیر او دشر تمیزيه ښه شان نشي کولی او پخپل بهبود نه پوهېږي هلته که دیموکراسی رایجه شي مملکت دانحطاط خواته دروميي او پرمخ تګ ئې له عقله لری خبره ده.
دانظر په زمونږ په وطن کښی دډاکتر اقبا ل له اشعارو او ځینو نورو مفکرینوله اثارو اقتباس شوېده مګرددنیا ډېر پوهان په هرځای اوهروخت کښی دیموکراسي اود افکارو ازادي له بل شان حکومتونو غوره ګڼي او ددیموکراسۍ او دکتاتورۍ په باب کښی وائي(( دمېلمستیا ډېره خرابه کوټه دانتظار له ډېري ښې کوټې نه بهتره ده))
په دې باندې باید سړی اعتراف وکړي چه هرفکر حق نه وي او ډېر ځله د ډېرو کسانو فکر هم خطاکېږي نودیوه دکتاتور فکر به څنګه هروخت اوپه هر ه مسئله کښی له سهو او خطانه خلاص وي.
دامکنه ده چه دډېرو پوهانو اوهوښیارانو دفکرپه مرسته حق او حقیقت ته ورسېږو مګرپه یوه فکر باندې هر وخت دحقایقو کشفول امکان نلري.
دیوه مجتهد او امام په حق کښې هم داخبره منل شوېده چه شیخ کله سهوه کېږي او کله حق ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديوه سړي فکر او دډېروفکر هېڅکله يو راز قيمت اويو حق نشي پيداکولی که يوتن فکروکړي او فکرېې له عقل اوقياس سره برابر هم وي بياهم داجتماع يعنی دډېرو خلقو د فکر په مقابل کښې ضعيف دی او دجماعت فيصله دفرد له فيصلی نه قوت لري، پدی خبره کښې هېڅ تردد نه دی پکار چه ديموکراسۍ اوشورائي اصول هرګوره ښه دي او په هغه ځای کښې چه هرڅوک دفکر کولو اوفکر ښکاره کولو حق لري او کارونه دجماعت په فکر کېږي هلته دعدالت امکان له هغه ځای نه زيات موجود دی چه يوفکر حاکميت او تسلط لري او ټول کارونه ديوه سړي خوښې ته سپارل شوی وي، ديوه سړي فکر د اعتماد وړنه دی، انسان سره له دې چه خدای ډېر فضايل ورکړيدی بياهم يوازې په انفرادي صورت يو ضعيف متحير اومتر دد مخلوق دی چه پخپله هم پخپل فکر باندې اعتماد اوتکيه نشي کولی اوپه هرشي کې داجتماع شاګرد دی او د جماعت له تاثير لاندې دی.

زمونږ دابحث يوه باريکي لري چه ظاهراً د تناقض رنګ پيداکوی ځکه چه کله د فرد فکر ستايو او حق پې ګڼو، کله ورته قاصر اوضعيف وايو او عدم اعتماد پرې ښکاره کوو د همدې لامله د جماعت فکرمرجح او غوره ګڼو مګرکه څوک دقت وکړي هغه پوهېږي چه دفرد فکر سره له نيمګړتيا او قصوره د خير و شر، دښو اوبدو مميزدی،که سړی سل ځله پخپل فکر کښی غلط شي بياهم بايد په هره خبره کښی فکروکړي اوفکر پرې نږدي.

فکر دانسان يوداسی ملګری دی چه که هرڅومره سهوې اوغلطې ورځنې ووينې اوډېر تاوانونه وروړسوی بياهم لاس ورځنې ناخلی اوپه هره خبره کښی ترېنه سلا اومشوره غواړي، داچه مونږ د يوه سړي فکر دنورو افرادو دفکرپه مقابل کښې نه منو معنی پې دانه ده چه د فرد فکر ته اعتنا نلرو بکه معنی پې همدغه ده چه د فرد فکر ته زياته اعتنا لرو، که مونږ ديوه سړي فکرته هرڅه وسپارو معلومه خبره ده چه دبل فرد او دنورو افرادو فکرته څه اهميت نه ورکوو او په احترام ورته نه ګورو.

ځينی داسی افراد شته چه پخپل غلط فکرډېر ټينګ درېږي او دبل صحيح فکر ته نه وراوړي، دهمدی لامله وايو چه ديوه مملکت کارونه بايدپه يوه فکر اجرانشي او يوه فکر ته هرڅه ونه سپارل شی.

دهرسړی فکر دهغه دتصوراتو اوشغل و مصروفيت له تاثيرلاندې وي او واقعات و حوادث، تلقينات او تبليغات فکررا اړوي، حب او بغض، خوشبيني او بد بيني د فکرپه بدلون کښې ډېر دخل لري.

ديوه سړي فکرچه يوې خواته متوجه شي په هغه خواکښې ډېر باريک شيان هم وينی مګرپه بله خواکښې ډېرواضح شيان نشی ليدای ياپې نشی منلی نوهرکله چه څوتنه په يوه موضوع کښی فکروکړی او هريو د مختلف نظر خاوندوي نوموضوعاتوته له مختلفو خواوؤ کتل کېږي او ټول اطراف اوجوانب سنجول کېږي، ددغو ټولو فکرونوله مقارنې اومقابلې څخه يوه معتدله فيصله په لاس راځي اوله انفرادی فکر څخه افراط او تفريط ورکېږي.

مونږ بايد د هر فردفکر ته په احترام وګورو اوپه حق ورته قايل شو، دهېچا فکرېې له قوي اومنطقي دلايلو دبل دفکر تابع ونه ګڼو او دا و نه وايو چه يودې دبل په فکرپسې په پټو سترګو اوبې دليله روان شي مګردفکرونو شريکول او د فکر تول يوه ضروري خبره ده او دمنطق وبرهان يا صحيح استدلال په مقابل کښی له خپل فکره تېرېدل اودبل فکرمنل په کاردی.

داشتباه په وخت کښې چه له څوتنو نه قبله ورکه شي هريو به پخپل فکر يوې خواته درېږي مګرکه له يوه سړي سره قطب نما يا کومه داسې صحيح الـه موجوده وي چه لوری اولودن معلوموي هلته به هر څوک هرطرف ته مخ نه ګرزوي.

په فکر کولوکښې بايدله دقت اوتعمق نه کار واخستل شي، ډېر خلق وي چه فکر پې يوې خبرې ته ډېر ژررسېږي اودچا خبره په نيمه پوهېږي مګرپه مسائلو سطحي اوسرسري تېرېږي دغسې کسان په رشتيا چه په نيمه پوهېږي او پوره نه دي پوهېدلي، ديو عالم او بې علمه په فکر کښې همدغومره فرق وي چه دهغه په فکر کښې دقت موجوودوي او ددې بل نظر برسېره او څرښنده تېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکرباېد له فعل اوعمل سره تماس او تعلق ولری او دتجاربو په محک بېي صحت او سقم معلوم شي، تجربه په حیات کښې ډېر تاثیر لري او پس له کړو او او کارکولو لاس ته راځي، هرکله چه افکار عملي شي اوپس له تجربې نه يې صحت معلوم شي هغه وخت دعلم درجه مومي اوقوت پیداکوي.

چـه لـه لـرې سـرى کانـدي سنجشـونه  کارتـه نـه رانـږدې کېږي کـړي فکرونـه

لــه دې فکــر اوسنجشــه پیــداکېږي  دماغونوکښــې سودازړوکښــې غمونــه

بــې لــه فکــر ه چــه خــوک کــار کــړي خوشــې زیــار کــړي

چــــه بــــې کــــاره کــــړي فکرونــــه ځــــان خــــوارکړي

چــــــه عمــــــل اوفکریولــــــه بلــــــه بېــــــل شــــــي

عمــــــل خوارشــــــي فکــــــر ورکــــــه ســــــمه لارکــــــړي

# کار او عمل

وروسته له فکر کولوکار اوعمل په کاردی، بې عمله فکراو بې فکره عمل يو هم سمه او صحیح نتیجه نه لري، فکر د همدې لپاره دی چه سړي ته کار او دکارسمه طریقه وښئې، د انسان صلاحیت اوقابلیت دکار اوعمل له مخې معلومېږي.
تقوی او عدالت، ظلم او فسق دانسان په اعمالو اوکردار کښې ځان ښئې.
له ښه فکر نه ښه اراده او له ښې ارادې نه ښه عمل پیداکېږي ځکه کار اوعمل ته د فکر نتیجه اوغایه وایو او اصلي مقصد يې بولو.
فکر پخوا له عمله دیوه مړی مثا ل لري اومفکوره په عمل ژوندۍ کېږي دفکر صحت او غلطی پس له کار او عمله معلومېږي هغه فکر چه عملي کیدای نشي څه قیمت نه لري.
خوک چه فکر کولی شي اوکارنشي کولی هغه لکه ګوډ اوشل داسی دی چې هېڅ ځاي ته نه رسېږي اوپه هروخت کښې بل ته محتاج دی.
هغه چه کارکولی شي اوفکر نشي کولی دړندو مثا ل لري چه لیاره نه وینې او په لیاره تللی شي.
کاردانسان هغه اقتدار څرګندوي چه دلوی ښتن له قدرت څخه فیض اوبرخه لري اوانسان ته د خلافت حق ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمنطق پوهانو انسان په نطق (عقل) اوفکر له نورو حیواناتو بېل کړی مګر که نوي اصطلاحات جایزوګڼل شي نوپه کار او فعالیت يې بېلول بهتر دی.
د ځمکې په ټولو ژوو او حیواناتو کښی انسان یوفعا ل اوکاريګر مخلوق دی چې دده په کارونو اوفعالیتونو دادنیا معموره او ودانه ده، دغه لوی لوی ښارونه او لوړي ماڼې، دغه دکار فابریکې او ماشینونه دغه سمسورباغونه او شنه فصلونه،دغه لوی جهازونه داورګاډی او طیارې د انسان دفعالیت اوکار شوا هد دي چې انکار ترېنه نشي کیدلی.
پاک خدای په کار او فعالیت کښې د خلقت او ایجاد قوت اېښی دی او داسې څه ترېنه پیداکېږي چې دمخه يې تصور هم نشی کېدای.
دا ممکنه ده چې دریابونه وچ شي، دغرونو کانې تمام شي، دپادشاهانو خزانې تشې شي، په معدنوکښې څه پاته نشي او هرڅه خلاص شي مګر هغه څه چه دکاراو عمل په کڅوړه کښې دی هغه تمامېده نه لري او وخت په وخت نوی شیان ترې را اوزي.
دانسان اصلي اوحقیقي ثروت کاراو دکاراستعداد دی،په همدغه شی انسان هر څه پیداکوي او له جهانه ددنیا او اخرت استفاده کوي انسان د کار او فعالیت په مرسته مړه مواد هم په کار اچوي او د ژوندیو شیانو کارترېنه اخلي، دغه ماشینونه چې ده په حرکت راوستلي دي او شپه ورځ کار کوي دا خبره ثابتوي چې انسان په نورو شیانو کښې هم دکار اوفعالیت استعداد پیداکولی شي.
دانسان په قدرت کښې دانشته چې بې روحه شیان ژوندی کړی مګر داکولی شي چې له ژوندیو شیانونه پکښې زیات قوت او ګړندیتوب پیداکړي او په هواکښې يې وګرزوي. په کار باندی آثار او نتایج مرتب کېږي او ددنیا اواخرت پنګه همدغه شی دی. .
صالح عملونه اوښه کارونه د خدای په دربارکښې ډېرقدر لري، او په مثقالونو خرڅېږي. په فعالیت اوکار کښې پاک خدای دومره برکت اېښی دی چې سړی ورته په یوه معین مقدار او معیار نشي قایلیدلی، داکیدای شي چه دکار او زیار په اثر له یوه زري نه سمسو رباغونه جوړشي اوله لږ و دانونه خرواروونه پیداشي.
دانسانانو په کار اوعمل غرونه سوري شوه، بیابانونه زرغون شوه، په دریابونو کښې لارې جوړې شوې هوا او فضا له پښو لاندې شوه، دځمکی له سینې نه پټ شیان راووتل او داتوم بمونه پیداشوه.
که اوس هم څوک د کارپه قوت او قدرت نه قایلېږي هغه به ډېر بې شعوره وي.
دانسان په مټ او بازو، زړه او دماغ کښې د کار او عمل یو دا راز قوت اواستعداد موجود دی چه له هر څه نه هرڅه جوړولی شي او په عناصر وکښې تغیر اوتحو ل راولي.
دانسان په خوارقو او اختراعاتو کښې کارډېره مهمه اوستره برخه لري.
ددنیا له ایجادنه تراخرته پورې په دغه اورده او طولاني سفرکښې د انسان دلارې توښه اوپانګه همدغه دکار او فعالیت قوت او طاقت دی چه ورځ په ورځ يې اثراو برکت زیاتېږي او په دغه څوری کښی هیڅ نقصان نه راځي.
په کوم هېواد کښې چه دکار اوعمل خاوندان موجود دي هلته دانسانانو جونګړې او کنډرې په عالي قصرونو او لوړو ماڼیو بدلې شوي دي، هلته دسیندونو مخه نیول شوی او دانسان په خوښه يې مجراپیداکړېده، په هغه ځای کښی غرونه او رغونه شق شوي او ډېر پېچومی اوار شویدي، هلته په سرکونو باندې دخرو او غویو په ځای اورګاډی او موټرونه چلېږي او په حیات کښی سل راز ه راحت او سهولت لیده شي.
بیکاره اوبی فعالیته انسانان اوس هم په سمڅو اوغارونو کښې استوګنه لري او د حیواناتو څرمنی اغوندي د هغوی خوراک او س هم دغرو بوټی دی او له وحشیانونه دژوند په لحاظ ډېر لږ فرق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار دانسانانو ډېر مشکلات او احتیاجات رفع کوي او ډېري اسانۍ پیښوي مګر د ا هله چه له کار سره فکر او عقل ملګری وي او یو له بله مرسته وکړي د پوهانو او نا پوهانو کار دفایدې او نتیجې په لحاظ د ځمکې او اسمان قدرته فرق لري، هغه کارونه چه فکر اوعقل پې نه خوښوي دګټې په ځای زیان اوضررلري.

په کاراو عمل کښې باید اشتراک او اجتماعي تعاون موجود وي ځکه چه انفرادي فعالیت ډېر لږ منافع لري او لکه انفرادي محدود تجارت سر ګرداني پې ډېره اوګټه پې لږه وي، یو سړی داکولی شي چه دحیات او ژوند له لیارې یوازې واړه واړه کانې لرې کړي مګرهغه پیچومی چه په دغه لاره کښې موجود دی د ډېرو خلقو مشترک فعالیت اوګډه سعیه غواړي، داپیچومی هغه وخت او اربېږي چه ټول ورته متوجه شي او په ګډه کاروکړي.

تر څو چه په یوه ملت کښې اجتماعي همکاري پیدانشي د حیات لوړې ژورې نه ورکېږي اوپوره راحت او سهولت نشي پیداکېدلی.

مونږ باید اول دفکر اوعمل موافقه حاصله کړو اوبیا دډېر افرادو فعالیتونه متفق کړو چې یوې سمې او صحیح نتیجې ته ورسېږو.

وایي چه په یوه وچه بیدیاکښې یوشل او یوروند یو ځای شوه، هلته اوبه نه وې، سبوری نه و، ډوډۍ نه وه او د دواړو ژوند په خطرکښې و.

ړوند لیاره نه لیده او نه پوهیده چه کومې خواته ودانی اوابادی ده؟

شل ته لوری او لودن معلوم و مګر تللی نشو او پښې پې نه وې.

دوی دواړه وروسته له مفاهمې او موافقې نه په دې راضې شوه چې شل ړانده ته وړپه شاشي، دی به هغه ته لیاره ښئې او هغه به ځي.

په دغه ډول دواړه ودانۍ اوابادۍ ته ورسېدل اویخې اوبه توده ډوډۍ پې پیداکړه، که دغه شان دعمل اشتراک اوګډ فعالیت پیداشو شل او ړوند هم یوځه کولی شي او یوه ځای ته رسېږي که هر یوبیل بیل کوشش کوی یو هم له دې بیابانه ژوندی نشي وتلی اوپه لوږه تنده کښې پاته کیږی.

دیوه ملت دپېشرفت او سعادت لپاره دفکر اوعمل اشتراک ډېره صحیح نسخه ده او ډېر مشکلات پرې حل کېږي.

کارونه د نتیجې اوفایدې په لحاظ په دوه ډوله دي:

یو هغه کارونه دي چه نتیجه پې ژر لاس ته راځي اوګټه پې په لږ وخت کښې معلومېږي، ځینې نورداسې دي چه نفع او فایده پې ځنډ غواړي اوپس له ډېر انتظاره پې نتیجه راوزي.

ددی دواړو کارونو مثا ل داسې دی لکه ځینې حیوانات یا نباتات چه په لږ وخت کښې لوئېږي اوپه لږ وخت کښې نتیجه ورکوي، ځینې نورپه ډېر وخت کښې کما ل ته رسېږي اوثمره پې پس له ډېر وخته ځرګندېږي.

یو چرګوری په څو ورځو کښې له هګۍ راوزي او په څو میاشتو کښې په هګیو راځي او ډېر بچې راوړي یوه اسپه پس له څو میاشتو یوبچې راوړي او هغه هم پس له ډېرو مباشتو دسپرلي کېږي او ډېر انتظار په کاردی چه یوسړی یوه ځای ته ورسوی.

همدغه شان یو حیوان په څومیاشتوکښې بلوغ او کما ل ته رسېږي او یو انسان پس له ډېر و کلونو رشد او ځلمیتوب ته رسېږي نو هغه نتایج چه پس له ډېر وخته په لاس راځي له هغو نتایجونه ستراو مهم دي چه په څو ورځوکښې حاصلېږي کارونه او اعما ل هم دنتا یجو او فوایدو په اعتبار ځېنې آني اوځینې ځنډنی دي.

ځنګه چه علاجونه او چارې په فوري او اساسي علاجونو بېلېږي او بی له یوه فوري او آني ضرورته مونږ دخپلو رنځورانو اساسي علاج ته متوجه کېږو، باید کارونه هم په اساسي ډول شروع کړو او هغه کارونه چه پس له ځنډه ځنډني فواید لري له نظره نه غورځوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ملتونه چه کارته دآني اوفوري منافعو په لحاظ ګوري او نتايجوته انتظارنشي ايستلی هغوی له لويو او مهمو منافعو محروم دي اوتل بې په چرګو او چرګوړو نظر وي هغوئ ددی په ځای چه د خوکالولپاره اساسي پلانو نه طرح کړي او هغه عملي کړي شپې او ورځې په نظرکښی نيسي او د چا خبره خپلي شپې تيروي.
هغوی په دې باندې ښه نه دي پوه شوي چه دملتونو عمرلکه ديوه فرد عمر لنډ او محدودنه دی چه په دغسې لنډو پروګرامونو سرته ورسيږي او اني ګټې په نظرکښی ونيسي.
هرکله چه يو دهقان تخم کري او نه مياشتې وروسته حاصل اخلي يوملت بايد داسې تخمونه هم وکري چه شل ديرش کاله يايو قرن او دوه قرنه وروسته نتايج ورکوي او فوايد بې ظا هريږي.
دديموکراسي حکومتونو او استبدادي حکومتونو يوفرق همدغه دی چه په کوم ځای کښې چه ملی شوراګانې موجودې وي او د ملت وکلاء دملت خيرو شرسنجوي نود ملت عمر او پاينت په نظرکښې نيسي او دنقشو طرحه کولو په وخت کښې دملت عاقبت او آينده سنجوي مګر يو مستبد حکومت چه هرڅه کوي خپلې شخصي ګټې ته ګوري او د خپل عمر په احاطه کښې د ځان ګټه لټوي. مونږ بايد په اجتماعي امورو اوکارونوکښې اساسي بهبود له نظره ونه غورځوو اولوټه اينسودل او تيرېدل په هيڅ کار کښې غوره نکړو او يو فرد دا نشي کولی چه په خپل کار او عمل کښې سل کاله وروسته په نظرکښې ونيسي، يوملت خو بايد خپله اينده اوراتلونکی نسل هير نکړي اوداسی کارونه وکړي چه لمسو او کړوسو ته بې هم نفع اوفايده ورسيږي او د ودانی اساس بې ډير ټينګ اومتين وي، هر کله چه يو سپين ږيری دهقان په اخرعمر کښې نوی نيالګی ږدي چه روستنی بې سيوري ته کښيني او ميوه بې وخوري يوملت به ولې داسې کوي چه لکه يو دکاندار هر وخت ځانته له بازاره ميوه واخلی او دباغ جوړولو په فکر کښې نه وي.

## له کار سره علاقه

په کتابونوکښې بې راوړيدي چه له کارسره علاقه دسړی ټول فکر دکار خواته متوجه کوي او هر څومره چه د کار مينه په زړه کښې زياته شي دانسان په کوښښ کښې هغومره زياتوالی راځي اوکار ښه کيږي.
دا خبره محض کتابي خبره هم نه ده کله که تاسې پخپلو مزدورانو پسې دکار کولو په وخت کښې څارکړی وي دا به درته معلومه شوی وي چه ناراسته لوګری خپل لورپه لوټه تيره کوي او هيڅ کارنه کوي ځکه چه هغه له کارسره مينه اوعلاقه نه لري او دکار شوق بې په زړه کښې نشته، ډير خلق دي چه سړی و رځنې د حا ل احوال پوښتنه وکړي وائي شکر دی شپې او ورځې تيريږي، نوهغه څوک چه محض دشپو او ورځو تيرېدل غنيمت ګڼي او شکرونه باسي هغه به کار ته په څه نظرګوري اوله کارسره به څه علاقه لري؟
زمونږ ډير ښه مامورين او کار کونکي هغه کسان دي چې په حاضرۍ ټينګ دي او په وخت کارته راځي که څه هم هيڅ کارنه کوي او قصې کوي.
اکثره خلق چه له اجتماعی امورو سره علاقه ښئي په دې ټکي ډير زوراچوي چه څوک کارنه کوي له کارسره علاقه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که رښتيا ووايو تشخيص بد تشخيص نه دی، خلقو مرض راله پېژندلی دی مګر په علاج کښې نه دی کړېدلی چه له کارسره علاقه څه وخت او څنګه پيداکيږي؟

پخوا له دېنه چه وګړي دتعليم او تربيت په اثر يو اجتماعی شعوراو احساس پيداکړي او وطن خپل کور وګڼي او د مزدورانو چم ورسره ونکړي مونږ څه کولی شو؟ اودکار علاقه څنګه پيداکولی شو؟ ددې سوال په جواب کښې د هرچا خوښه چه هر څه وايي، زه خو يو ه مهم ټکی ته اشاره کوم او وايم که دلته غړيدونکی او بينا سترګې پيداشوې اوکارته پې کتل اورومرو له کارسره علاقه پيداکيږي او کارونه ښه کېږي، تراوسه پوری خوپه هره اداره کښی له يو آمر اومشر د تفتيش په ډول ننوزي سمدلاسه حاضر ي ګوري او بل هيڅ شی نشي ليدلی تر دې وخته خو مونږ د حاضرۍ اخستلو او حاضرۍ ليدلو نه نه يو اووښتی اوکار ته نه ګورو، په هيڅ اداره کښې هېڅوک په وزګار کښينا ستلو او کارنه کولو له جزا لاندې نه دی راغلی او حاضر ګڼل شوی دی هرکله که د کار مبصرين په کارپسې وګرزېدل او کارته پې کتل، دهر چا پېشرفت او ترقی دکارله مخې شوه او نورشيان له مينځه ووتل له کار سره به علاقه پيداشي او کارته به په مينه او محبت خلق وګوري.

انسان له خپل پېشرفت اوخپلی ترقۍ سره ټينګه علاقه لري که ترقي بې له کارکولو په بل راز ممکنه نه وه او د چا کارنه ورکيده دکارمينه په زړونو کښې ځای نيسي او له کارسره علاقه پيداکيږي.

په هر بازار کښې چه هره متاع ښه خرڅيږي خلق هماغه شی ورته راوړي اوپه هماغه شي پسې ګرزي،که د کارخريداران پيداشوه او کارونو قدر او قيمت پيداکړه د خلقو په مټو کښی به زور او قوت پيداشي او ډير درانه پيټی به په اسانه اوچتوی، بيا به زړونه دغسې ساړه نه وي او خلق به دتملق او چاپلوسۍ په عوض کارکوي او هرڅه به دکار په لمن کښې غواړي خلق به په دې پوه شي چه کار او زيار لکه يو کامل پير خپل مريد لوړو مراتبو او مدارجو ته رسولی شي او په کارباندې هر راز کارونه کيږي.

که زمونږ ښارته يونوی کاروان راغی اودکار ښايسته اوښکلې منظره پې خلقوته وښودله بيا به دکار غلامۍ په باداری اوسردارۍ خپله ښه بدله کړي او پادشاهان به پې خريداران شي.

اوس خو کاردنوکرانو او مزدورانو کاردی مګرکه اصلي او حقيقي څيره پې څرګنده شوه زليخابه پې په مينه او محبت افتخار وکړي او داغلام به .زښت ډير عزيز شي.

# عقيده

له دې حربي ټانکونو نه هغه خوا دډېرو توپونو اوډېرو لښکروتر شا له هوايي طيارونه ډير پورته يو دا راز قوت ليدل کېږي چه په ټولو قوتونو غالب دی. له دې قوت سره نه اور او نه اوبه مقاومت کولی شي او نه ورسره په توره او علم مقابله کيږی.

داقوت هغه عقيده ده چه انسان هر راز ايثار اوقربانۍ ته تياروي اوپه ملتونو کښې يو فعا ل عقل، نه وېرېدونکی عشق، فرهادی عزم اوسيلابي حرکت پيداکوي چه هېڅوک او هيڅ شی پې مخه نشي نيولی، که تاسې کوم داسې ملت ګورئ چه هغه په هيڅ شي عقيده او باور نه لري او دهيڅ شي لپاره له سر او ماله نشي تېرېدلی يقين وکړئ چه هغه ملت لکه داوبو ځک ډير ژر ورکيږي او محوه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د روح خوشحالی او دزړه اطمینان چه سړی یې نه په ما ل او دولت کښی موندلی شي او نه یې دعلم وفلسفی په رڼا کښې ځوک مومي نه په لوړو ماڼیو کښې پیداکېږي نه په زیب و زینت او جاه وجلال کښې لیده شي دعقیدي خاوندان یې دعقیدې په لاره کښې په هرقدم کښې مومي او هرساعت یې استقبا ل کوي.
کوم کسان چه نه په دینی اساسانو ایمان لری اونه په اخلاقي او روحاني نوامیسوګرو هیدلی دی، نه یې په نظرکښې ملي شعایرڅه قیمت لري، هغه په هېڅ مه حسابوئ او هېڅ یې وګڼئ.
انسان یوازی هغه چا ته نه وایي چه شکل اوبڼه یې د بنیادمو وي او دانسانانو جامې یې اغوستی وي، هغه اشخاص چه له خوراک او ځکاک نه هغه خوا نور څه نه پېژني او له مادي خوندونونه غیر بله قبله اوکعبه نه لري هغه باید د هوا دمرغانو په شمیرکښې راشي چې ددنیا له باغ وبڼ نه میوې او دانې ټولوي، په ګڼو اوشنو بڼونو کښې اوسي او نور هېڅ کار نه لري اود هېڅ کارنه دي.
بې عقیدې خلق لکه دلارو او کوڅو خځلي داسې وي چه هوایي بادونه یې هرې خواته وړي او لوبې پرې کوي، مګر هغه چه عقیده لري او په یوه عقیده ټینګ ولاړدی دهغوی عزم او اراده دومره قوي وي چې د نمرود له اوره هم نه وېرېږي او په خطراتو ډېر زړور ورځي.
دعقیدې پیداکول او ټینګول یوقوي او مقتدر پالونکی غواړي چه عملاً د عقیدې په نشر او تحکیم کښې برخه واخلي او دعقیدې عاشق وبلل شي.
دعقیدې په ټینګوالی او ککلوالی کښې ادبیات ډېره حصه لري بلکه کیدای شي چه عقاید ایجاد کړي او یوملت دځینو شیانو معتقد وګرزوي.
دغه دوطنیت او ملیت مفکوره چه د ځینو اقوامو لپاره عقیده ګرزېدلې ده په اصل کښې ددې عصر د ادب مولود دی اوشعرو ادب په کښې عقیدوي قوت پیدا کړی دی. ځکه چه شعر او ادب عقاید ټینګوي، فلسفه او سیاست په عقایدوکښې ضعف او فتور راولي او له خرافاتو سره یې برابروي د شعر او ادب دا وظیفه ده چه معتقدات او اخلاقي مبادي ټینګ وساتي او په دغسې ذهني روابطو د یوه ملت ارتباط او اتصا ل قوي کړي.

# اخلاق

ښایي چه داعنوان د هر چا خوښ نشي او هرڅوک دغه مضمون تراخره ونه لولي مګر زنځورانو ته سړی بېخو نده دارو هم ورکوي او دواګانې اکثره بد خونده او بې مزې وي.
مونږ ډېر سره اوسپین مخونه، غټ ځټونه اوقوی وجودونه ګورو چه په راز راز روحي او اخلاقي مرضونو اخته دي او ډاکترانو ته ځانونه نه ښئي.
زمونږ طبیان هم په دغسې نا جوړیو ښه نه شي پوهېدلی اوله مریض نه دطبیب حا ل ډېر بتر معلومېږي.
دیوه ملت دپاره ترهرڅه دمخه داپه کار دی چه خپل اخلاقي شان او وضعیت ته ملتفت شي او خپل زړه او دماغ معاینه کړي. داخلاقو رڼا زمونږ په هیواکښې لکه دغلو ډیوه ډېره خړه اوکم نوره ده په دغسې تیاره او تورتم کښې د انسانیت اوسرېتوب صفات او خویونه ورکیږي اوسړي ته څه نه پاته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ اوس نږدې نږدې داسې مرحلې ته رسېدلي يو چه بد اخلاق ښه ګڼو اوپه ناوړه خويونو افتخار کوو ځکه چې اخلاقي ذايقه موبايللى ده او خواږه راباندې ترخه لګيږي.

اوس مونږ فريب، چل او ټګى هوښيارى بولو، له يوه او بل سره مجامله او منافقت، بېځايه مراعاتونه او د حق ويلو په ځاى کښې چوپ کښېناستل مهارت اوهنر ګڼو، صداقت راته دساد ګانو خوى او خصلت معلوميږي اوسخاوت دبدوى او ابتدائي اقوامو عادت شمېرو.

ډېر خلق شته چه له اخلاقي مباحثو څخه مړښت اوبې نيازي ښکاره کوي او وايي هغه خويونه چه پخواستايل کيده اوس نه په کاريږي، مونږ بايد زاړه تعليمونه پرېږدو او په دې اقتصادي عصرکښې د جود اوسخا سندرې ونه وايو.

زه دا منم چه ددې عصر اقتضا په اخلاقو او عاداتو کښې څه تغير پيښ کړى او اخلاقي ذوق ېې څه قدرته اړولى دى.

په دې وخت کښې دصداقت اوسخاوت عناوين د چا توجه نه جلبوي مګر دانشم منلى چه اخلاقي تعليم بيفايدې دى او ضرورت ورته نشته.

ترڅو پورې چه انسان په دروغو شرمېږي، تر هغه وخته چه يو انسان دبل انسان صميميت او ملګرتياته محتاج دى، ترهغه زمانه چې انسان په مينه او معاونت خوشحاليږي او د دوستۍ قدر کوي مونږ به رښتيا او وفا، اخلاص او محبت، ايثار او سخا ستايو او احسان ونېکۍ ته به په ښه سترګه ګورو.

ځينې کسان چه په دوايروکښې کارونه کوي اورسمي وظايف لري هغوى داخلاقو له کتابه يو يادوه شيه غوره کړى او هماغه کافي ګڼي.

دوى ډېر ځله په وظيفه شناسۍ او پاک نفسۍ وياړي او دچا اخلاقي مراعات په ځان لازم نه ګڼي بلکه بې پروايي اوبې اعتنايي ورته ښه معلوميږي او له لحاظ و خاطر سره مجادله ضرور بولي. دا راز خلق سره له جدېت اوفعاليته اوسره له دې چه له چا نه رشوتو نه اخلي اوله حقه نه تيرېږي خلقو ته ښه نه معلوميږي او په نفرت ليدل کېږي ځکه چه دوى هغه انساني اواخلاقي جاذبه نه لري چه د خلقو توجه جلبوى اوپه زړونو تسلط پيداکوي.

دوى په دې رازنه دي پوهېدلي چه ژوندون يوازې فعاليت او ماشيني حرکت نه دى چه سړى پرې اکتفا وکړي او په نور څه پسې ونه ګرزي.

څنګه چه مونږ په اجتماعي حيات کښې يو دبل لپاره کار کوو او تعاون ته اړيو، يو دبل ترضيې ته هم محتاج يو او ددوستانه علايقو او روابطو په ساتلو ترهغه حده چه اخلاق اجازه راکوي مکلف ګڼل کېږو.

اجتماعي ژوندله مونږ نه داغواړي چه له خلقو سره يو ښه راز اتصا ل او قرابت پيداکړو او د اخلاقو په مرسته په زړونوکښې محبتونه توليد کړو.

ښه اخلاق او ښه خويونه د همدې دپاره دي چه مونږ يوله بله نږدې او په مونږ کښې اجتماعي همدردي پيداکړي.

که دغه انساني جاذبه نه وي موجوده نو دغه کلي او ښارونه چه مونږ په کښې او سو، مونږ نشي راټولولى او د دوه ورونو ژوند هم ډېر تر يخېږي او بېخونده کېږي.

اخلاق بايد په مونږکښې لورېنه او پيرزوينه پيداکړي، له زړونو اوسينو څخه عنادونه او حسد و کدورت وباسي، ژبه په رښتيا ويلو او حق بيانولو وچلوي او دحرص اوشهواتو مخه ونيسي.

د يوه ملت اخلاق چه فاسد او خراب شي هغه ارومرو د انحطاط اوټيټوالى خوا ته درومي او له ډېرو بدبختيو سره مواجه کېږي.

په يوه ملت کښې که اخلاقي پابندي نه وي مو جوده، هلته قوانين او اجتماعي نظام د مفاسدو او مظالمو مخه ښه نشي نيولى او عدالت ښه نه قايميږي، هغه خلق چه له ښو اخلاقو تېر شوي دي او اخلاقي تربيه نه لري هلته ډېر فجايع او مصيبتونه ليدل کېږي او انسانان سمه لاره پرېږدي په نفس وشيطان، هوا او هوس پسې درومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته عياشي اوشهوت پرستي، دروغ ويل او حق پټول رواج پيداکوي او دخيرو صلاح مينه له زړونو څخه وزي، په انساني شعوراو ادارک کښې تغيير پېښېږي، دښو او بدو تميز څوک نشي کولی، دفضايلو قدر او قيمت کمېږي، صبرو ثبات استقامت او حقانيت په افرادو کښې نه پاته کېږي، هر څوک هرڅه کوي او شرم و حياله سترګو وزي، هغه تقویٰ او عفت چه انسان له هلاکت او رذالت څخه ساتي ضايع کېږي او افراط و تفريط د عدالت او مساوات ځای نيسي.

ددغو ټولو ملاحظاتو په اثر يوملت بايد خپلې خزانې دومره ټينګې ونه ساتي لکه چې خپل ملي او عالي اخلاق ساتي. داخلاقو ساتنه ترهرڅه زياته ضروره، که اخلاق نه و، هيڅ نشته او هيڅ نه پکارېږي. بې اخلاقو ژوند د مريضانو او رنځورانو ژوند دی چه له ډېرو شتو سره بېخونده او بې مزې وي.

دغه راز نا جوړتيا صحيح اديان او ليکوال ورکولی اوکمولی شي او د همدوی کار دی چه لوړ او عالي اخلاق په ملت کښې وساتي او محوه کېدوته يې پرې نږدي.

# تعليم او تربيت

چاچه دتعليم اوتربيت ټکی اورېدلی او د دواړو په مفهوم اومعنی کښې يې غور او دقت کړی دی هغه پوهېږي چه تعليم بېل شی او تربيت بېل شی دی.

علم په ټوله نړی کښې تقريباً يو راز وي مګر تربيت په هرملت او هرمملکت کښې بل راز کېږي. علم په لږ وخت کښې ديو څه کتابونو په ورلو او ترجمه کولو له يوه ځايه بل ځای ته نقل شي مګر دتربيت انتقا ل عمرونه اوډېر وسايل غواړي.

دعلم ښودنه د يوه ملا او معلم کاردی، مګرتربيه کو ل دمحيط او جامعې، دمور اوپلار، دکوراو کورنی، ديوه قايد او مرشد وظيفه ده.

علم په الفاظو اوکلماتوکښې ځای لري مګرتربيت په عمل اوکردار کښې ځان ښئي.

دغه راز تعبيرات زښت ډېر دي اوسړی کولی شي چه دتعليم اوتربيت راز راز تعريفونه وکړي او بيل بيل لفظونه ورته په هره ژبه کښې پيداکړي. تعليم ته ښودنه يا پوهونه وواييې او تربيت روزنه اوپالنه وبولې، هغه آسان او دا ګران کار وګڼې. دمدنيت او تهذيب، اخلاقو او عاداتو اساس تربيت وبولې او په اختراعاتو او اکتشافاتو کښې علم ته زياته برخه ورکړې.

دا کېدای شي چه ديوه سړی فهم او ادارک، پوهه اوهوښياري زياته وي، کتابونه يې ډېر لوستي وي، معلومات يې له مدني اشخاصونه هيڅ کم نه وي مګر دتهذيب اوتمدن په لحاظ په ډېرو ابتدايي مراحلو کښې پاته وي.

يو سړی داکولی شي چه دمعلوماتو او نظرياتو په اعتبارد خپلې جامعې اومحيط له عمومي سطحې ډېرلوړ شي، خپل لباس اوخپل ظواهر بل راز کړي مګر خپله محيطي او نژادي تربيه هغومره نشي اړولی او هغه ترقي چه په هغه خوا کښې کوي دلته يې لسمه برخه هم نشي کړای.

رښتيا وايي چه ښنګه غر هغسې يې کربوړی، که يوسړی هر څه وکړي او سل رازه صابون په ځان ووهي بيا هم دخپل هيواد تربيوي رنګ له ځانه نشي لرې کولی اوخپله ملي تربيه نشي اړولی.

ښايي چه تاسي په غرونو کښې له سمې نه ښه ښه ملايان پيداکړئ چه دکتاب په حاشو اونکتو به ډېرښه پوهېږي، په منطق او فلسفه کښې به يې شهرت لرې ځايوته رسيدلی وي مګر وضعيت ا و ناسته ولاړه به يې دغره والو وي او په اخلاقو او عاداتو کښې به له هغوئ نه څه ډېرفرق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه به په ښارونوکښې ډېرې شپې تېرې کړی وي، علم به يې له سمې او اوارې نه غره  ته خېژولې وي مګر دښاروالو او سمه والو تربيت به يې له ځانه سره  نه وي  وړی. ډېر  پوهان  به وي چه په ډېرو دقيقو علمي مسايلو به پوهېږي مګرکوم نواقص او عيبونه چه د محيط په تربيه کښې وي هغه به نشي  ليدای اوپه دې باب  کښې به له عوامو ډېر فرق نه لري.
دلته  هغه مشهوره قصه رايادېږي  چه دپښتنو په سيمه کښې دوه غرونه دي يوته ايلم او بل ته دوه سرى وايي، څه خلق چه دايلم په لمنه کښې اوسي هغوی  خپل  غرجګ ګڼي، څه نور چې د دوه سری په اړخ پراته دي هغوی وايي دوه سری هسک غر دی.
ددوی  په مينځ کښې هروخت په دې خبره جګړه وي اوکله کله په کښې سرونه هم ماتېږي، په دغه ځای کښې کوم وخت يوطالب  العلم له خپل  استاذ سره دابحث راواخيست  چه مونږ ولې ټول عمر په خوشې خبره جنګونه کوو او يوبل ژوبلوو؟ دانا پوهې باید ورکه کړو او داعادات پرېږدو، استاذ هم دده تائيدکاوه او دا جنګونه يې د حماقت او نادانۍ سنداو  حجت ګاڼه، په دې بحث کښې له طالب نه ووېل شوه معلومه خبره ده چې دايلم غرجګ دی او دوه سری ټيټ دی، دلته دملاصاحب هغه ټولې خبرې هېرې شوې او طالب  ته يې په بدو  او ردو ويلو شروع وکړه، طالب هم دايلم په غره ټينګ ولاړو او له استاذ سره په جګړه اخته شو.
وګورئ!  دوی دواړه دعلم اوپوهې له خوا پوهيدل چه دا جګړه د ناپوهۍ علامه ده مګر د محيط له تاثيره يې  ځانونه خلاص نشوکړای  اوکه هر څه و، بيا هم يو د ايلم او بل د دوه سری و.
علم او پوهه سړی پوه کولی شي مګر منع کولی يې نشي څکه چه تربيه په علم باندې غلبه لري. يوسړی داکولی شي چه بل په خبره پوه کړي مګر ښه کولی يې نه شي،  انسان په ډېرو شيانو پوهېږي مګر کوی يې نه، پوهول دعلم کاردی مګرښه کول اوپه ښه لاره بيول صحيح تربيت غواړي.

# دقضاوت شعور

ځينې کسان دي چه په خپله پره نه شي پوهېدلی او ټل نور خلک په خپل حق کښې ملامت بولي. دوی هرڅه کولی شي مګر په ځان باندې دملامتۍ حکم نشي کولی او خپله ګناه ورته دنورو له ټوا به ښه ښکاري، دوی په خپل ځان او په خپلو کړو هيڅ قصورنه ويني او داسې معلومېږي لکه چې ددوی سترګې د ځان د ليدو د پاره نه وي.
د دوی د ډيوې لاندې  همېشه تياره موجود وي او  هغه څه چې بايد په ځان کښې وګوري په جهان کښې يې ګوري.
دوی چې په خپل ګرېوان کښې سرښکته کړي او ځانته متوجه شي يوه ذره ملامتي نه شي ليدای مګرچې بل ته متوجه شي ډېر واړه شيان په نظرکښې غټ ورځي او په لرمانه کښې هڅوکې پيداکوي ددغسې اشخاصو انساني شعو ډېر کمزوری وي او دوجدان سترګې  يې ړندې وي.
دا راز خلک دانصاف او عدالت په پوله هم کله نه وي تېرشوي، او دبل آس له خپل ټټو سره هېڅکله نه برابر وي.
دغسې انسانان چې دخپل عيب او قصور له ليدلو عاجزدي اودغه توان نه لري چې په خپله سهوه او خپل نقصان اعتراف وکړي، دخپل ځان اصلاح هېڅکله نه شي کولی او خپل عيب ورته هنر معلومېږي.
هغه دقضاوت شعور چه په حيوان کښې نشته او په انسان کښې شته سړی مجبوروي چې خپل ښه اوبد وسنجوي او هغه وخت چه دده معامله له نورو سره پيداشي ځا نته تر ځځ ونه وهي او ډېره ښه منصفي وکړي.
هغه وخت چې انسان د ځان او دبل په حق کښې حکميت کوي او ځانته دقضاوت په حق قايلېږي بايد خود خو اهي او خو د غرضي پرېږدي، د ځان مينه له زړه نه وباسي، د خپل اوپردی فرق ونه کړي، د حق په ستونی پښې کښېنږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له حقه څخه تېر نشي، عدالت او حقانیت له انسان نه همدغه تقاضا لري او دقضاوت شعور داغواړي چې انسان به له ځا نه سترګې نه پټوي او په خپل قصور به اعتراف کوي.
زه دانه وایم چه څوک به هېڅکله کوم بد یا ناوړه کارنه کوي، هېڅکله به د چا په حق کښې ګرم او ملامت نه وي او نه به د نفس او شیطان په لار درومي ځکه چه زه په دنیا کښې دیوه معصوم انسان انتظار نه لرم او دانسانانو په هیواد کښې پرښتې نه غواړم، زما آرزو یوازې همدغه ده چې انسان یواخلاقي احساس او دقضاوت صحیح شعور ولري چه خپل نفس هم محاکمه کړی شي اوپه خپله ګناه اعتراف وکړي. کله چه انسان له ځانه سره یوازې کېږي او په خپل ګرېوان کښې سرښکته کوي باید خپل عیبونه خپل نقصانونه ولیدای شي او ندامت وکړي. همدغه پښیماني او ندامت انسان اصلاح کوي او پاک خدای پرې خوشحالېږي.
انسانان هم هغه انسانان ډېرښه ګڼي چه په حق اعتراف کوي او خپله پړه مني، هغه څوک چې ګناه کوي او ځان ګناهکارنه بولي، هرڅوک ورته په قهر اونفرت ګوري او د خدای درحم او مهربانۍ مستحق نه ګڼل کېږي، دانسان اوشیطان فرق همدغه دی چې یو په خپل قصور او پخپله ګناه اقرار کوي او مغفرت غواړي، هغه بل د خپلې سرکشۍ او نافر مانۍ دپاره دلایل پیداکوي او ځان ګرم نه بولي.
دعصیان او بغاوت فرق هم همدغه دی او هغه شی چې له ګناه نه لوی جرم بلل کېږي په خپله ګناه نه قایلید ل او خپله پړه نه منل دی.

# ذوق

څوک چه د یوه ښه شعر په لوستلو، دیوې ښکلي نغمې په اروېدلو، دیوې ښې منظرې په لیدلو پخپل نفسي حالت او کیفیت کښې تغیر وینې او د خوشحالۍ احساس کوی هغه ته د ذوق خاوند ویل کېږي، او هغه چه له دې ټولو شیانو پټې سترګې تېرېږي او په بې اعتنایي ورته ګوري د بې ذوقو په ټولګی کښې راځي.
د یوه مدنی او بدوی انسان فرق هم د ذوق او حساسیت په اعتبار ډېر ښه معلومېږي.
هغه څه چه یوشاعر او دشعور خاوندېي داسمان په رڼو ستورو، دسپوږمۍ په سپینه رڼا، د دریاب په مستۍ، دشنو بڼونو په سمسو رتیا، دبلبلو په نغمو، دښکلو په ناز او خنداکښې ګوري د غرو شپانه اوساده انسانان یې هم وینې مګرپه دواړو یوشان اثرنه کوي او په احساس کښی یې ډېر تفاوت موجود وي.
هغه کسان چه د شعر او ادب له اغېزې لاندې نه دي راغلي او دغه حلال سحر پرې تاثیر نه کوي باید پخپل ځان ووېرېږي اوپوه شي چه انساني احساس یې ډېر کمزوری دی او له ذوق څخه لږه برخه لري.
هغه ذوق چه انسان ته دخوړو اوترو و خوند ښئي حیوانات یې هم لري او مچان هم د خوړو احساس کولی شي مګر هغه بل ذوق چه دلطایفو او محاسنو په خوند باندې پوهیدل دی هغه یو بل شان تلذذ دی چه په خوراکو نوکښې هېڅکله نه موندل کېږي او له شهواني خوندو نه هسک مقام لري.
دا ذوق بلبله دګلزار لورته بیایي اوهغه ذوق کارغه په مرداروپسی ګرزوي. بې ذوقی د انسان لپاره لوی عیب دی اوهغه څوک چه دښو خبرو او انسانی فضایلو په خونداو کیف نشي پوهېدلی له ډېر لوی نعمته محروم دی. هغه چاته چه دزرکو له اوازه درزکو کباب خوندورکوي او د رباب له ترنګه دغوری شرنګ ته زیات خوشحالېږي د هغه په حا ل افسوس او حسرت په کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه شان خلق دوطن له خرابۍ نه د خپلي اشتها په خرابۍ ډېر خپه کېږي اوبې له شخوند وهلوپه خوندنشي پوهيدلی. څوک چه د خير رسولو اوعواطفو ذوق پيداکړي هغه بيا له دېنه چه ځان ورې پرېږدي او بل موړ کړي ډېر خونداخلی اودغه مزه په ډېرو خوندورو طعامونوکښې نه مومي.
پوهان اومشران بايد دصحيح اوانسانی ذوق په پيداکولو او روزلو کوښښ وکړي او حيواني ذوقونه په انساني ذوقونو بدل کاندي. هغه کسان چه دشهواتوپه استسقی اخته دي او داتنده پکښې زياته شوېده که هغوی هرڅومره خوړوب اوسيراب شي نسونه ېې پرسېږي اومړي مګر تنده ېې نه ماتېږي او قناعت ئې نه حاصلېږي.
ددوی اساسي علاج دانه دی چه خواړه او اوبه پرې زيات کړو بلکه اصلي چاره ېې پرهيز او درنځور ذوق مخالفت دی.
که ذوق مريض اوعليل وي ياله فسق اوفجورسره اشناشي دغه ملکوتي انسان د حيواناتو په غوجل کښې تړي اومقام ېې ټيټوي مګرکه دغه مادي ذوق له معنوي عالم سره اشنايي پيداکړي او نور خوندونه وپېژني انساني سويه لوړېږي اوعالي اخلاق په محيط کښې رواج مومي. دذوق تربيه او پالنه دعالي ادب اوشعر کاردی او په ادبي درسونو ذوق عرفاني کېږي.
هغه روحي امراض چه ډاکتران ېې علاج نشي کړای دشعر او ادب خاوندان ېې په اسانۍ چاره کولی شي.
که په شعر او ادب کښې معنوي ذوق او عرفاني شعور حلول وکړي او شاعر دظوا هرو په ځای حقايق او معاني وستائي کيدای شي چه ديوه ملت په روحياتو، اخلاقو او عاداتو کښې تغير پېښ کړي او ذوق ېې ورواړوی.
هغه احساس او هغه مينه چه له سليم ذوق څخه پيدا کېږي په اجتماع کښې ډېر ښه تاثير لري او د ډېرو بدبختيو علاج پرې کېږي.

# خيال

خيا ل يوپټ معنوي قوت دی چه له واقعاتو اومحسوساتو نه هغه خواځېنې شيانويني او په غيبي حقايقو پورې زړه تړی.
په کومه لاره چه خيا ل تللی شي هلته عقل د ړندو په شان ټېرېږي او څه نهويني. د انسان د فکر او عقل مانۍ په خيا ل ولاړه ده او دملتونو په حيات کښې ډېره ستره او مهمه برخه لري.
کوم علوم چه عقل پرې يقين کړی دی او دخيا ل برخه په کښې ډېره لږه معلومېږي که غوراو دقت وکړو خيا ل په کښې ډېره برخه لري.
که تاسې له يوه رياضي دان څخه د (واحد) تعريف وغواړئ چه درياضيانو ابتدا او انتها ګڼل کېږي يا د هندسې له يوه عالم څخه د (نقطې) پوښتنه وکړئ چه ټول خطوط ورځنې پيداشوي اوله خطوطو څخه بياطو ل، عرض او عمق يعنې مقائيس ثلاثه پيداشوی دغه دواړه شيان ېې له خياله وجودنلری. دغه دصحراکانې چه مونږ ېې په حجريت او کانيتوب پېژنو دا هم دخيا ل اغېزه ده او دانسان تحليل دتحجر اوتجمدپه صورت ورته قايل شوی دی.
که چيری انسان د خيا ل له قوته محروم وای اوبې له محسوساتو ېې نور څه نه ليدلی عقل اوفکر ېې دغی درجې ته نشو رسېدلی اوپه غيب ېې ايمان نشو راوړلی. خيا ل په انساني ژوند کښې نشاط اوسرورپيداکوي او احساسات وعواطف

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزی. هغه شی چه دانسان په نظرکښې معنوي محسنات او روحي آما ل ځلوي هغه خيا ل دی او همدغه شی لکه يو ه ښکلې حوره انسان په هر حا ل کښې خوښ او خوشحاله ساتي.
دوطنخواهي احساس، د ازادۍ ارزو، دشهرت تمنا دانسان يوه خيالي معشوقه ده او همدغه شی بې يوې خوا او بلې خواته بيا يي اولوی لوی کارونه پرې کوي. .همدغه انسانی تخيلات دي چه ديوه ملت خواره واره افراد راغونډوي او اجتماعی جذبات و احساسات ژوندی کو ي، خيا ل په شعر او ادب کښې ډېر د خل لري او شعرا ٴ او ادبا ٴ د خيا ل په مرسته عواطف اومشاعر راوبښوي.
چيرته چه شعر او ادب کمزوری او خيالات مړه وي هغه ملت هم مړبلل کېږي اوانسانان د ماديا تو په مينه کښې ورکېږي هلته په زړونو باندې مايوسي اوافسردګي غلبه پيدا کوي او دعرفاني نهضت او ارتقا مينه له مغزونه وزي.
په دغسې ځايونوکښې خلق په مساجدوکښې ناست وي سرونه يې په زنګنو ايښی وي، خطيبان خطبې او خطابې لولي، مګر د دوی په زړونو کښې هيڅ جذبه هيڅ جوش او حرکت نه پيداکېږي او ټول په مراقبه کښې ويده وي.
مجالس او محافل بې روحه وي، جرايد اومطبوعات څوک نه لولي، خلق ظاهراً په کلـو او ښارونو کښې اوسي مګر په زړونوکښې سره بېل او جدا وي.
د هرچا غم او خوشحالی ځانته وي، هېڅوک له هېچا سره رابطه اوعلاقه نه لري، همدردي اوغمشريکي له مينځه ځي او يوه بېشعوره ږند ه دنيا جوړېږي.
که په شعر او ادب کښې له خيا ل او تخيل څخه کارو اخستل شي او له خيا ل نه استفاده وشي له ړندو سترګو نه هم اوښکې تو يوي اوله کاڼو نه سخت زړونه نرموي.
تاسې فرض کړئ چه په يو ځای زورور سيلاب راشي او د ډېرو خلقو کورونه خراب کړي، ډېر مالونه او ډېر انسانان له ځانه سره يوسي اوښځې ونر، ماشومان او سپين ږيري په اوبوکښې لاهو کړي، که مونږ دغه حادثه ديـوه خبر اواطلاع په صورت شايع کړو دومره تاثير به ونکړي لکه چه يو اديب دغه واقعه په يوه ډرام کښې تصوير کړي يا يـو شاعر ورځنې موثر اومهيج شعر جـوړ کړي او خيا ل پکښې خپله ساحري صرف کاندي. داواضحه خبره ده چه خيا ل په عواطفو اواحساساتوباندې حاکميت لري او تعقل محض دغومره رقت او دقت نشي جلبولی.که انسان يـوازې دعقل په نغوته کـارکولی نـو دسيلاب يـو مختصر خبر او دتلفاتو احصائيه کـافي وه چـه دمصيبت ليدونکو دپاره د نـورو همـدردي اودلسوزي حاصله کړي او د شعر و رومان وظيفه په ځای کړي مګر داهېڅکله نشي چه يـوه سړه بې روحه معقوله خبره لکه يوشعر اوادبی شاهکار چه له خيا ل اوتخيل نه پکښې کاراخستل شوی په زړونو اثرو کړی او عواطف وخوځوی.

# عشق او حرص

کورپه کوراوکلي په کلي ګرزېد مه، دهرچا به چې څه په خدای لورېدل هغه به يې زما په ځـولۍ کښې غورځول،رنګ په رنګ غلې او دانې به زما په ګوډي کښې ټوليدې او په کچکو ل کښې به مې څو ډوله ټوکان جمع شوه مګر زه بـه نه قانع کيدم او زما سر ګرداني نه ورکيدله. له يوه کلي به بل ته تلم اوله بل نه بل ته، هېڅ نه وم خبر چې زما ليلی په کوم کور کښې ده؟ او زه څه شی دومره لالهانده کړی يم؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به لکه د هوا مرغه سرګردانه ګرځېدم او نه به پوهېدم چه دکوم دام او کوم ښکاريم؟ ما ته نه وه معلومه چه دا د حرص او لوږی سرګرداني به کله او څنګه قطع شي؟ لکه چه د هوا مرغان په یوه پټي، یوه باغ او یوه بڼ کښې نه ایسارېږي زه هم د یوه کلي او یوه کور په خیرات نه قانع کېدم او په ډېرو ګرزیدو به نه ستړی کیدمه.
زه په دی نه پوهېدم چې د ګلزار بلبلې ولې په دانو پسې نه ځي او لکه کارغان مرداری نه لټوي.
ددې سر کشفول زما دپاره ډېرګران کار و او د دنیا په دغسې اسرارو پوهېدل هم څه اسانه کار نه دی. دعلم او پوهې ریباران د هرچاکورته لاره نه لري او هر چا ته د معرفت له دنیا نه خبر نه راوړي.
ماته دا پته نه لګېده چه دحرص علاج په څه شي کېږي؟ او هغه څه چه دانسان مخه له ټولو شیانو یوه شي ته راګرزوي څه يې بولي ؟
زه ډېره موده دغسې سرګردانه او لالهانده در په در، خاورې په سر وګرزېدم او خیر مې غوښته چه نا څاپه مې په یوه ښکلې لیلی سترګې ونښتې او د جما ل پرښتې خپله راته خیر راووړ.
زه اوس د بل چا سره خبرې نه کوم او بل څوك نه وینم یوازې له خپلې محبوبې سره راز و نیاز لرم او وایم: څه ښه ورځ وه، څه ښه ساعت و چه د کور مزدوره له کاله وتلې وه او تا پخپله له دروازې نه سر راښکاره کړ.
تا ماته وکتل او ما تا ته،پدې کتلو کښې نه پوهېږم څه اثر موجود و،چه زه يې له نورو کورونو راستون کړم او یوازې ستا د در ملنګ شوم. تا ما ته په اصل کښې د عشق او محبت خیر راووړ او زما لوږه دې بیخي ورکه کړه. زما د حرص کجکول دې مات کړ او د خوراك و څکاك فکر دې رانه ویووړ. زه اوس د بلبلو د ژوند په راز پوه شوم، ما ته اوس دا علم بې صوته او بې الفاظو حاصل شو چه د حرص علاج يې له عشقه په بل شی نه کېږي.
هر عشق چه وي او هره لیلی چه چا ته ځان ښکاره کړي، د جما ل پرښته وي که د علم و معنی محبوبه له انسان نه بل شی جوړوي او له ذلت او حقارت نه يې خلاصوي. د دنیا حرص او سرګرداني د عشق له برکته کمېږي او کارغان و بلبلې همدغومره فرق لري. هغه ملنګان چه په دغو کوڅو کښې څوك په دیدار او څوك په دنیا پسې ګرزي په ظاهره یو شان معلومېږي مګر په حقیقت کښې یو راز نه دي.
هغه څوك چه يې له یوه ټوك ډوډی او غوړ هډوکی بل مطلب نه لري هغه ته ستا درګاه او نورې درګاه څه فرق نه لري مګر چا چه په تا پورې زړه تړلی او ستا دیدار غواړي هغه یوازې ستا د کور طواف کوي او ستا د دېوا ل سیوری د همای له سیوري نه ښه ګڼي.
ستا د ښایست په ګلزار باندې یوازې بلبلو زړه بایللي دي او بس. دا نور ټول هغه هوائي مرغان دي چه د خوړو میوو د پاره ځي او راځي او هره ورځ شل او سل باغونه لټوي.
ای ګرانې مېنې! ای ښکلیه هیواده! ای د ښکلا او نازو نعمت مېرمنې! هغه څوك چه تا نه ویني او ستا عشق يې په زړه کښې نه دی پیدا شوی هغه ستا د درګاه خاورو ته په قدر نه ګوري، ستا د بهار ارزو نه لري ستا په ګلونو لکه بورا او بلبل نه تېرېږي، ستا د جروبیو او آبشارونو، ستا د ښایسته غرونو او ګڼو ځنګلونو د ښایست احساس نشي کولی ستا زرکو او هوسیو ته په مینه او محبت نه ګوري، ستا له ګلونو ډکه ځولۍ پرې اغېزه نه کوي، ستا ډك سیندونه او شنې درې ورته هېڅ معلومېږي.
ګرانه وطنه! تر څو چه د خلقو په نظر کښې ستا د حسن او جما ل شعور او احساس پیدا نشي او بې له غوړې او خوړې مړې نور څه ونه پېژني تر هغه وخته چه انسانان یو معنوي او نظري ذوق او شعور پیدا نکړي ستا محبت د دوی په زړونو کښې ځای نه نیسي.
دغه ډوډی غړپ عالم چه بې له نس مړولو بله سودا نلري او د عشق و مینې له جهانه نا خبره دی ستا مینې او محبت ته نشي رسیدلی. دوی له تا نه ډېرې ګټې وکړې مګر ستا عشق يې په زړه کښې پیدا نشو دوی لکه لیوان ستا په رمو کښې ګډ شوه او ډېرې غوښې يې و خوړې مګر ستا نشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رښتيا چه عشق او مينه د ګټې او فايدې په رڼا کښې نه موندل کيږي او له دغه لارې څوک د عشق مقام ته نه رسيږي.
هو! عشق د نفع او فايدې جغ ته سر نه ټيټوي بلکه شروع يې په دغه قربانۍ باندې کيږي.
عشق د سوداګرۍ متاع نه ده او خيټور پرې نشي پوهيدلی. د عشق درس بايد له بلبل او بورا څخه واخستل شي او د شعر و ادب په نغمو کښې د وطن او هيواد عشق و مومو.
دا سندرې د وطن شاعران وائي او شعر و ادب دا کولی شي چه مونږ له دغه عشق سره اشنا کاندي.

# دمشرانو عشق

څوک چه لوی شي او دمشرتوب لوړې درجې ته ورسيږي هغه بيا په دغسې ډيوو چه په يوه کورکښې بليږي ځان نه سبزی او نه لکه هلکان په کوم سپين مخ يا ملالو سترګو خپل زړه بايلي.
هغه هيڅکله ددنيا په سرو او سپنو داسې نه مين کيږي لکه په ما ل مين سوداګر چه شپه او ورځ ددنياپه غم کښې ورک وي او بل هيڅ شي ته يې پام نه وي، ما ل لا څه چه د خپل ځان، خپلو لوڼو او ځامنو، د خپل ټبراو کهول مينه اودوستی هم پرې دومره غلبه نه کوي چه نور هر څه هيرکړي اويوازې خپل غم وژاړي.
مشران او لوی خلق دغه ټو ل محبتونه چه واړه خلق يې لري په يوه عشق قربانوي چه هغه دملت او هيوا د عشق دی.
د همدغه عشق په اثر د ملتو مشران دمشرتوب حق پيداکوي او دبابا توب مقام او منزلت مومي.
څنګه چه يو طفل اوکوچنی دډيری ناپوهۍ په وخت کښې خپل پلار پيژني اوپه غيږ کښې ځان ورغورځوی ملتونه هم که هرڅومره بې تعليمه وي دخپلو خوا خوږو مشرانو تيمز کولی شي او د دوی په څولۍ کښې ځان اچوی، خپل ټول مقدرات دوی ته سپاري او په دوی اعتماد کوي.
دعشق په جاذبه کښې دغه قوت موجوددی چه احمد شاه غونډې د پنځه ويشت کالو ځلمی دټولو پښتنو بابا کړی او دډيلی په تخت يې کښېنوي. دپښتو نخوا اوپښتنو عشق احمدشاه بابا ته لويه شهنشاهي ورکړه او ډيرو سپين ږيرو دده بابا توب ومانه ځکه چه دی رښتيانی مشر و او هغه عشق چه په مشرانو کښې پيداکيږي په ده کښې موجود و.
ده په دروغو خپل وطن او هيواد ته دانه دی ويلی:

ســـــــتا دعشـــــــــق لـــــــه وينـــــــو ډک شـــــــوه ځيګرونـــــــه
ســـــــتا پـــــــه لاره کښـــــــې بـــــــايلي ځلمـــــــي ســـــــرونه
تاتـــــــه راشـــــــمه زړګـــــــی زمـــــــا فـــــــارغ شـــــــي
بـــــــې لـــــــه تـــــــامې انديښـــــــنې د زړه مارونـــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دډیلـــــــــي تخـــــــت هېرومـــــــه چـــــــه رایـــــــادکړم
زمـــــــا دښـــــــکلي پښـــــــتو نخـــــــوا دغروســـــــرونه

کـــــــه تمامـــــــه دنیـــــــا یـــــــو خـــــــوا تـــــــه بـــــــل خـــــــوابې
زمـــــــا خـــــــوښ دی ســـــــتا خـــــــالي تـــــــش ډګرونـــــــه

احمـــــــد شـــــــاه بـــــــه دغـــــــه ســـــــتاقدر هېرنـــــــه کـــــــا
کـــــــه ونیســـــــي دتمـــــــام جهـــــــان ملکونـــــــه

څوک چه معنوی رشداو بلوغ ته ورسېږي او دمشرتوب درجه وموميږ هغه له وطن او هیواد سره همدغسې عشق پیداکوي او وطن ته دعشق په نظرګوري، هغه بیا دغرو په څوکو، دصحرا په لمنو، دوطن په کاڼو او بوټو کښې یوه داسې تجلی اورڼا ویني چه هر څوک پې نشي لیدای او هر چا ته ځان نه ښئي.
څنګه چه یوښاپیرک ځلانده لمرنشي لیدای، یوکوچنی دځلمیتوب احساس نشی کړای، ددغو ټېټو ډیو و پتنګان دستورو ډیوو ته نه رسېږي، دغه عالي عشق ته هم هرڅوک نه رسېږي اونشي رسیدلی.
داعشق دمشرانو او لویو خلقو په برخه دی اوبېل کیف لري.
ددې عشق نښې او علامې بل راز دي او ځانته شواهد لري. تاسې دغه عشق او د حسن و جما ل عشق سره بیل کړئ او هغه منظره چه دمجنون او لیلی په عشق کښې یې وینئ له سترګو لرې کړئ.
دا هغه راز مینه ده چه دپلار او څوی دمرشد او مرېد دشاګرد او استاذ ترمینځ وي اوبې له غمخورۍ او خیر خواهۍ نورمظاهر نه لري.
په دې عشق کښې نازو نیاز، بی پروایي او تغافل نه ځائېږي اونه په کښې رقیب او ربیار شته. له دې عشق سره رحم وعاطفه، ثبات او متانت همدردی او ایثار ملګری وی او له هر راز تهمتونو یې لمن پاکه ده.
دلته لېونتوب اوله خپله پردیو بېلېده نشته او نه پکښې دمعشوقو له لاسه شکایت او له رقیبانو سره حسد لیدل کېږي.
له دې عشق سره دپیسومینه او دمادیاتو محبت نه یو ځای کېږي. هغه څوک چه په پیسو مین وي او پیسې ټولوي هغه هېڅکله یوقام په ځان باندې نشی راټولولی. هغه کسان چه قومونه پرې غونډېږي هغه پیسې نه غونډوي او دغه مینه له زړه څخه باسي.
کوم اشخاص چه قصې ګټي هغه پیسې نه ګټي اوپه بت شکنۍ افتخار کوی.
داکیدای شي چه قلندران او درویشان دملت مشران شي او خلق یې په مشرتوب ومني مګرد پیسو مینان او سود خواره یا بډې خواره هېڅکله دمشرتوب لوړه درجه نه مومي اونه دمشرانو عشق پیداکولی شي.
ای هغو کسانو چه دمشرتوب آرزو لرئ او لویوالی غواړئ!.
راشئ! چه د خود خواهۍ او ټیټو مینو مراندې او تنابونه پرې کړواو د لمر و سپوږمۍ په خوا کښې خپلې خیمې ودروو.
راشئ! چه له دې کوچنیو ځالو والوزو او لوړپروازونه وکړو.
راشئ! چه یوملی او وطنی شعور پیداکړو او دوطن غرو او رغو، کاڼو اوبوټو ته په مینه اومحبت وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دغه شعور او دغه احساس ژوندی شو بیا به هر یو بل ته محبوب معلومېږي او هېڅوک به هېڅا ته په نفرت نه ګوري.
یو بېوای به دخوارانو دلداری کوي، یوعالم به ناپوهانوته سمه لاره ښئي، یو طبیب به د رنځورانو په علاج پسې ګرزي، یو قوی به دضعیف پېتی په اوږو واخلی او ټو ل به یو له بله ځارېږي.
راشئ! چه همدغسې وکړو او ددې په ځای چه یتیمان وژړوو د یتیمانو اوښکې پاکې کړو او د دردمنو له حاله ځان خبر کړو.

# یوازېتوب

هغه خواږه ملګري څه شوه چه ټوله ورځ به مې ورسره لوبې کولې اویو ساعت به هم نه بېلېدو.
هغه کانې به اوس چېرته وي چه دشپې به مې هم په جب کښې ساتل او یوه شېبه به مې له ځانه نه بېلول.
هغه ونې به اوس څنګه وي چه مونږ په کښې ټالونه اچو ل اوله ملګرو سره به مو یو ځای ځنګل.
داشیان اوس یو هم نشته او زه بېخي یوازې یم.
هغه خاورې چه مابه په کوڅوکښې ورسره لوبې کولی باد ویوړې اوزما خوشحالی هم ورسره لاړه.
هغه دګاټو او لوبو میدان به هم وران شوی وي، د ګودر غاړه به هغسې نه وي د خیزونو ځای به هم بل راز وي.
دا څه وشوه؟ او څه راپېښ شوه چه زه بې له دې ټولو بیل کړم او بېخي یوازې شوم.
زه خو به یوساعت له خپلو ملګرو نه بېلېدم او بې له هغوی مې ساعت نه تېرېده اوس ولې یوملګری نه لرم او چا ته نه نزدې کېږم.
هغه بله ورځ چه زما یو پخوانی ملګری دلته راغلی و، ما ورسره هغسې دمېنې مرکه ونکړه او بل راز راته ښکارېده، هغه به څومره خپه شوی وي اوپه زړه کښې به بې څه تېرشوی وي، هغه به وایي ده اوس خپله جامه بدله کړه او خپل پخوانی اشنایان بې پرېښودل.
ماته خودی زښت ډېرګران و، اوله هرچانه به مې ښه ګاڼه، ده هېڅکله داګمان نه کاوه چه زه به له ده سره دغسې بې پروایي کوم او دده مینه اومحبت به هېروم.
ماهم دغه تصور هېڅکله نه کاوه چه زه او دی به دومره پردی کېږو او زړه ملګرتیا به پرېږدو.
نه پوهېږم زما او دده ترمینځ چاتورې کټوې وګرزولې او زمونږ زړونه بې یوله بله تور کړه.
دی خو زما ډېر خوږ ملګری و، ما ولې دده قدر ونکړ ولې مې ده ته په مینه او محبت ونه کتل؟ کالي بې زاړه و او څه بې نه درلوده که دناپوهی په وجه راته بل راز ښکاره شو؟
زه اوس دعزت اواعتبار خاوند یم او دی لا چانه دی پېژندلی، که کوم بل علت اوسبب موجود دی چه زه او دی بې په زړونوکښې لرې کړو او پخوانی رابطه بې قطع کړه.
ښایي چه دغه خبرې ټولې رښتیا وي، ماډېره موده څه توراو سپین ولوستل اودی په هماغه پخوانی حا ل پاته دی زه اوس له کتابونو اواخبارونوسره اشناشوم او دی یوه چټی نشي لوستلی، زه په یوه مانی کښې دماموریت په چوکی ناست یم او دی پخپل کور کښې پوزی نه لري، زما خلق قدر کوي او دده سلام هم نه اخلي مګر دا نو ولې زما اودده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلتون سبب کېږي ولې زما او دده ملګرتیا قطع کوي. که یو تن څه نه لري اوغریب وي هغه سره به سړی خپله اشنایي قطع کوي او که به مرسته او کومک ورسره کوي.

که دسړی یوملګری ناپوه وي او په څه نه پوهېږي هغه به پوه کوي او که به یې له خپل مجلسه شړي.

هغه انسان چې دپوهې اولیاقت دعوه کوي او ځان دپوهانو دډلې ګڼي څنګه دا قبلولی شي چه د خپل هېواد خواران اوغریبان له خپلې مینې او محبته محروم کړي اوعلم وپوهه دبېلتون اولرېوالی موجب وګڼي. داعادات خو له یوه ښاغلی انسان سره نه ښائي.

علم او پوهه باید یوسړی له نورونه بېل اولرې نکړي او نه د دنیا عزت او اعتبار یو انسان له خوارانو او غریبانو نه وشکوي.

هغه علم چه دکوډو په شان دوه خواړه ملګري بېلوي او دغرور موجب ګرزي له ناپوهی نه یې زیان او ضرر ډېردی او هغه سواد چه سړی له محیط اواجتماع نه لرې کوي اوله نورونه دسړی زړه توروي په حقیقت کښې همدغه توره کټو ده او ماتول یې پکار دی.

که څوک غواړي چه په اجتماع کښې ژوند وکړي او له محیط نه استفاده وکړي، دعلم او لیاقت غرور دې له ځانه لرې کړي، خپله هوښیاری او دبل ناپوهی دې حایل نه ګڼي، سړیتوب اوانسانیت دې نه هېروي، اجتماعي مېلان دې نه بایلي، خوار وغریب ته دې په خوارو سترګو نه ګوري، له ملګرو دې په هېڅ وخت او هېڅ حا ل کښې نه بېلېږي، بلکه رادې شي او له جماعت سره دې خپل غم شریک کړي او خپله خوشحالی دې هم دنور په خوشحالی کښې ولټوي خپل زړه اوفکر دې له نورونه نه بېلوي، یوځای دې ورسره خاندي او یوځای دې ورسره ژاړي، ددوی په خوښه دې کارکوي چه دده په خوښه کاروشي.

خوشحالی او کامیابی همدلته ده او په یوازې توب کښې نشته، هرڅوک چه له نورونه پردی او لرې شو هغه هېڅکله نشي خوشحالیدلی اوپه یوه پټ اورسوزي.

د ( من شذ فی النار ) همدغه معنی ده او ددنیا دوزخ همدغه یوازېتوب دی.

# زه او ته

مونږ باېد دلته داسې اورونه بل نکړو چه کلی او ښارونه وسېزي او په لوګی یې د بصیرت سترګې ړندې شي ځکه چه دا اور د حسد اور او دشیطان له کوره دی.

مونږ به خپلې ډیوې له هغه اوره لګوو چه په کوه طور کښې یې ځان ښکاره کړی او د زړونو او دماغونو خونې روښانه کوي.

د حضرت ابراهیم (ع) پیروان باید پخپل عمل او یقین سور اور ځانته ګلزار کړي او پخپل لاس د عالم دسېزلو لپاره دوزخونه جوړنه کړي.

هرچا چه په پخپل زړه کښې د حسداور مړکړ ددوزخ اوریې نشي سېزلی اوپه سرولمبو کښې سلامت پاته کېږي.

هغه څوک چه له یوه جماعت او جمعیت نه په نفرت او عناد وزي هغه هروخت په سره اور کښې سوزي او تل په اورکښې وي.

ته په دې پوه شه چه زما اوستا بېلتون لویه ګناه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دوه مین سره بیل شي پروا نشته ځکه چه عشق او محبت بې نور هم زیاتېږي او دوصا ل ارزو قوي کېږي مګر د دوه ورونږو بېلتون او هغه بېلتون چه دبغض و حسد په سبب پیداشي عالمونه تباه کوي او ملتونه برباد وي.
زما او ستا نزدې کېدل، یوکېدل، پخلا کېدل، ملګری کېدل ډېرلوی اجر لري.
زه اوته دوصل لپاره یوځکه چه فصل اوبېلول دشیطان کار دی.
زه او ته به سره نزدې کېږو او ژرژر به قدمونه اخلو چه دغه فاصله دلوی خدای په فضل اومرحمت له مینځه واخستل شي.
زه اوته که هر څومره نزدې شو هماغو مره خدای ته هم نزدې کېږو ځکه چه ارومرو به په نفس اوشیطان پښې ږدو او له نفسي اوشخصي اغراضو به تېرېږو. زه اوته به ځانته نه ګورو دملت اومملکت خیرو سعادت ته به ګورو.
مونږ باید ملي او اجتماعي ګټې په نظرکښې ونیسو او له لوړافق څخه نظروکړو . زه به دیو کېدو اونزدې کېدو لپاره خپل هرڅه له تا قربان کړم مګر ته هرڅه له ځانه مه قربانو ه او عمومي مصلحت په نظرکښې نیسه!.

# سترګې مه پټوئ!

ښه وګورئ! سترګې مه پټوئ! خدای ته ورتګ دی د قیامت ورځ راتلونکی ده، سترګې پټول، حق نه ویل، د حق په ځای کښې چوپ کښېناستل ډېره لویه او عظیمه ګناه ده.
وګورئ! اوپه ځیرځیر وګورئ، که ستاسې سترګې خلاصې شوې که تاسې هرڅه ولیدای شوه، که ستاسې بینایي معلومه شوه ډېره لویه اوستره ګټه به وکړئ.
ستاسې ډېرې بدبختۍ په سترګو غړولو، لیدلو او کتلو ورکېږي.
تاسې دسترګو په حکمت ښه نه یاست پوه شوي او پوره کار مو له خپلو سترګو نه دی اخستی.
هغه کسان چه ګوري اووینې غله ورځنې څه نشي پټولی اوغدۍ پرې نه لوټېږي.
تاسې خپلې سترګې غړوئ او ګورئ څه نه وینئ او څه نشئ لیدای، تاسې به وایاست چه مونږ شپه او ورځ پېژنو، توراوسپین بېلوو، دانسان اوحیوان فرق کولی شو، که مونږ څه نه لیدلی هرګوره به د چاله موټر لاندې شوی وو یابه په کندو او کپرو کښې لوېدلی وو،په سم سرک به نه وو روان اوبې لارې به تللو.
زه وایم چه اوس هم ډېر خلق بې لارې روان دي اوسمه لار بې پرې اېښی ده، ډېر خلق له ګړنګو نو لوېدلي دي مګر ځانته نه دي ملتفت. دغه شان لیدل اوکتل چه مونږ کولی شو حیوانات یې هم کولی شي او دموټرو له مخې اوښان هم ځانونه په څنګوي، واښه اواوبه ویني، له پاڼو نو او کمرو ځان نه غورځوي او له حسي خطراتو نه ډډه کوي.
دانسان لیده او کاته بایدله حیوان نه ډېر فرق ولري، د بنیادم نظرباید دومره سطحي او سرسري نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ ! چه مونږ اوتاسې د خپل نظر امتحان ورکړو چه مونږ څه ليدلی شوکه نه؟ مقصد مې دا نه دی چه د اولې شپې مياشت په مازديګر ياغرمه کښې ګورو، يا په څوکروه لرى يوشى معلومرو چه انسان دی که حيوان، نردی که ښځه؟ سپوردی که پلی؟ زما مطلب بل شان امتحان دی اوبل راز سترګې مې په کار دي.

هو! زه هغه سترګې غواړم چه غدر، خيانت، ريا، ټګي، ظلم اوتلبيس بلکه ابليس ورنه ډډه کوي او دغه شيان ليدلی شي.

زه وايم دغه خلق چه تاسې په لارو او کوڅوکښې، په بازارونو او مساجدو کښې، يا په دوايرو او وزارتوکښې په کراتو او مراتو ليدلی اوکتلی دی ايا تاسې دوی په رښتيا ليدلی اوکه اشتباه موکړيده.

زه ګمان کوم چه ډيرو خلقو ډير خلق نه دی ليدلی او ورسره اشنايان شوي دي.

دغه سترګې چه له مونږ سره شته له کاره وتلي دي او څه نه وينې، دغه شان سترګې د هوا له مرغانو او دځمکې له ځناورو او حيواناتو سره هم شته.

هغه سترګې چه له رنګو نو اواجسامو نه ماوریٰ نورشيان ليدلی شي هغه زمونږ په کوراو کلی کښې له چا سره نشته او مونږ په رښتيا څه نه وينو. ما ته دا سودا په ټينګه پيدا شوې او زړه ته مې داخبره لوېدلی ده چه مونږ څه نشوليدلی که زه غلط شوی يم زما سودا وباسئ اوما پوه کړئ.

ماخو د مخه وويل چه زه له تاسې نه په رښا ورځ دستورو ليدل نه غواړم، زه وايم دغه کسان چه تاسې يې هره ورځ خبرې کوئ او ورسره مخامخ کېږئ يا په موټر اوبګيو کښې ستاله مخه تيرېږي تاسې يې پيژنئ چه دا څوک دي او څنګه خلق دي؟

هغه چه په ښوښو ماڼيو کښې اوسي، په اعلیٰ موټرو کښې سپرېږي نفيس لباسونه اغوندي، اوښه ښه خوراکونه خوري ايا په دوئ کښې خاينين، غداران، ظالمان اومنافقان نشته؟

دوی ټول کاريګر لايق اوصحيح اشخاص دي؟ دوی دغه جايدادونه او دا دومره ډيرې پيسې په مشروع ډول په کار او لياقت پيداکړي دي؟

دغه نور چه ډوډی نه مومي، دناستې ځای نه لري، په تن لغړ او په خيټه وږي دي په دوی کښې دوطن صادق خدمتګاران، پاک نفسه زحمت کشه او لايق اشخاص بيخي نشته؟ دوی ټول له څرمې بېکاره او غير مستحق اشخاص دي؟

تاسې ښه وګورئ! او ډير غور وکړئ که دلته خاينانو، غدارانو او ظالمانو په ظلمو نو، رشوتونو او خيانتونو عالی قصرونه، نفيس موټرونه، پاخه جايدادونه اولوړ مقامونه پيداکړی وي او ډير ښه خلق اوصالح اشخاص چه لس شل کاله يې دوطن خدمت په صداقت اوپاک نفسی کړی وي هغه نن خوارو زار، بې کوره او بې اوره ګرزي او هېڅ نه لري نوتاسې يقين وکړئ چه مونږ ړانده يواو څه نه وينو.

که چېرې درندو بازار نه وای او خلقو ښه اوبد ليدلی هېڅکله به دغسې نه کېدل اونه به و شوی.

که زمونږ په سترګو پردې نه وای د رشوت خوروپه کورکښې به دانښا يسته پردې نه ځړېدلی او دقصور خاوندان به په قصرونو او ماڼيو کښې نه اوسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دزماني تغير

که تاسي هېر زړی نه یاست اوسترګې نه پټوئ نو په دغو لږو کلونو کښې په عالم کښې ډېرلوی تغير پېښ شوی او زمانه بېخي بل راز شوی ده مګر دا تغير محسوس نه دی معقول دی او دعقل خاوندان پرې ډېرښه پوهېدلی شي.

دانسان وجودکه څه هم په هماغه پخوانی حا ل دی، هماغه دوه سترګې دوه غوږونه او دوه پښې لري مګر هغه څه چه نن ليدلی شي پخوابې نشو ليدلی، هغه څه چه نن يې اوري پخوا يې نشو اوربدلی، ترهغه ځايه چه نن رسېږي پخوانشو رسيدلی، په هغه شي چه نن پوهېږي پخوا نه پوهېده ، هغه څه چه نن ويلی شي پخوا يې نشو ويلی.

څوکاله پخوا زمونږ نوکرانو او مزدورانو زمونږ له جلب لاندې منډې وهلې مګرنن راسره په موټر کښې يو ځای سپاره دي او هغومره فرق نه لرو.

يووخت و، چه مونږ بد بدکارونه ښه ګڼل او ستايل مو، بيا يو وخت راغی چه په دغو ستاينو شرميدو او چوپ شوو مګر اوس بدو ته بد او ښو ته ښه ويلی شو.

زه چه نن خپل ځانته ګورم او دخپل شعوراو ادراک تفاوت سنجوم پوهېږم چه په دنياکښې ډېرلوی تغير اولوی تحو ل پېښ شوی او زمونږ په هيوادکښې يې هم ډېر تاثير کړی دی.

يو وخت وچه مابه هغه څوک ښه ګاڼه چه چاته به يې زيان او ضرر نه رسيده مګر څه موده وروسته په دغومره ښه توب نه قانع کېدم او له ښو خلقو نه مې ښې ښې ارزوګانې هم غوښتلې، مابه ويل ښه سړی هماغه دی چه په زړه کښې يې دوطن اوملت دپاره ښې ارزوګانې اوښه نيتونه موجودوي، مګرنن په دې هم نه يم قانع او هغه څوک ښه بولم چه ښه ښه کارونه کوي او دايثار اوفداکاری په ميدان کښې داخل وي.

دايوازې زما حا ل نه دی نورهم ډېرملګري شته چه بې عمله ايمان کافي نه ګڼي او تشو ارزوګانو ته په څه قيمت نه دي قايل.

که څوک نن له مونږ نه ستاينه او محبوبيت غواړي او ارزولري چه مونږ ورته ښه ووايو اوښه يې وګڼو هغه دې په دې پوه شي چه تش لستوڼی اوبې لاسه لستوڼي مونږ نه خوښوو بلکه کاراوعمل ته ګورو او دهرچا جد وجهد، قرباني اوفداکاری په نظرکښې نيسو. مونږ اوس له پخوانه زيات هوښيارشوي يو او سادګان نه يو، مونږ خلق پېژنو اوپه زړونوکښې ډېرښه پوهېږو.

مونږ رښتيا ويلی شو، زمونږ په زړو نوکښې بې دخدای له وېرې بله وېره نشته، مونږ حقايق څرګندو او حق وايو مګر ددې کاره دپاره په يوه ترتيب قايل يو او هغو مره څه وايو چه خلق پرې پوه کولی شو.

مونږ د ځان او دبل د پوهولو او ويښولو ټينګه اراده لرو او داکار هېڅکله نه پرېږدو، مونږ غواړو چه اعمالو او افکارونه دلوی خدای په توفيق خيرې او ناولتيا ګانې ورکې کړو او دضرورت په وخت کښې ډېرې ناپاکه جامې په تيږو وټکوو او په څو باړو يې ووهو.

مونږ ځينې لوړکسان وينو چه اخلاق يې ډېر ټيټ دی،په بدو او ناوړه اعمالو نه شرمېږي، دفسق په شهرت پروا نلري، خيانت ورته بدنه معلومېږي، په پردی ناموس ډېر زړور ورځي، په رشوتونو قصرونه اومانۍ ابادوي اوپه ډېرو هسکو ځايونوکښې ناست دي.

مونږ غواړو چه دوی خپل ځانونه اصلاح کړي او په رښتيا توبې وباسي، خپل خدای ته رجوع وکړي او په نيکو اعمالو خپل سئيات وونځي اوپخوانی عادتونه پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی زماني همدغه تقاضا ده او دزماني تغیر له دوی څخه دغه نفسي تغیر غواړي. که دوی غواړي چه زمانه بې رسوا نکړي اوځوک بې سترګو ته خلی ورنوري باید خپل ځانونه اصلاح کړي او پوه شي چه زمانه بل راز شوه اوبل راز خلق غواړي.

# برابرنه دی

صحراته ولاړم هcخ کاڼی له بل سره برابر نه و، غرونو ته وختلم ځیني جګ اوځیني ټیټ و، په باغونو وګرزېدم دبوټو بوټو وده او لوړتیا یوراز نه وه، ددریاب کبان مې ولیدل یوله بله په ټول کښې برابر نه ختل، د هوامرغان هم ځیني غټ او ځیني واړه و، ښارونه مې وکتل د ځینو کورو دیوالونه اوچت و اود ځینو نه و، کورونو ته ننوتم، ځیني غولی لوی و، ځیني واړه، په دوایروکښې وګرزېدم ټو ل میزونه او ټولې چوکۍ یوشان نه وې، کتا بخاني مې وکتلې د درستو کتابو قطع اوحجم برابرنه و، هیوادونه مې ولیدل ځیني تاوده و، ځیني ساړه، انسانان مې وکتل ځوک جوړو او ځوک ناجوړه، ځوک ړانده و او ځوک بینا.

د لوی خدای کتاب مې بېرته کړ دا خبرې مې پکښې ولیدې:

ایاپوه او ناپوه برابر دي؟ د ړانده او بینا ترمینځ څه فرق نشته؟ ددوزخ اوجنت خاوندان څه توپیرنه لري؟ نوراو ظلمت یو راز دي؟ په دې پوښتنو راویښ شوم او په عالم کښې مې بیاسترګې وغړولې. هغه فرقونه چه په نورو انواعو او اجناسو کښې و، په انسانانو کښې یو په سله زیات معلومېده.

هغه ښاپیریان او دیوان چه خلقو له کوه قاف نه هغه خوا لټو ل ما په دوی کښې ولیدل، د پرښتو اولعینانو په معنی پوه شوم، قصابان او شپانه مې وپېژندل، دعدل او ظلم، علم او جهل، خیراوشر، سعادت او شقاوت فرقونه راته واضح شوه. پدې ښه وپوهېدم چه :

جــــــوداني قـــــدریولعل پــــــه کښـــــــې مونـــــــده شـــــــي

نــــــــور جهــــــــان واړه د توروکــــــــــانو غــــــــــردی

ماته دامعلومه شوه چه دډېرو لویو ملتو او لویو ټولنوقدر اوقیمت په یو څوتنو پورې تړلی وي چه که هغه ورځني لیرې شي هېڅ ورته نه پاته کېږي. او دمتمدنو اقوامو فرق له وحشیانو نه په یو څو تنوباندې کېږي.

لکه چه دانسان په جسم کښې مخ، سترګې، پوزه چه په وجودکښې ډېره محدوده او لږه حصه ده، یو انسان له بل ځنې بېلوي دغسې ملتونه اوټولنې هم د یو څو محدودو اشخاصو په وجود امتیاز پیداکوی او بېلېږي.

په هرمملکت کښې یو څوتنه محدود اشخاص وي چه دهغه مملکت سترګې اوپوزه ګڼل کېږي او دیوه هېواد نوم اونشان لوروي.

لکه چه یوانسان پخپل ټو ل وجودکښې دوه سترګې لري چه د هغو په بینایي دجهان لوړې ژورېویني اوسمه لارپېژني یوه جامعه هم څوتنه لري چه د هغوی په بینایي اوبصیرت یوې خوا او بلې خواته حرکت کوی او دملت سترګې ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدې لامله ښه اوبد ددوی په سترګو ليدل کيږي، د فکر کولو او خيروشر سنجولو اميد دوی ته کيږي، دهيواد ترقي او لوړتيا د دوی دسعي اوعمل محصول باله شي اوهرڅه په دوی پورې مربوط او موقوف وي. کله چه په توره شپه کښې يوټولګۍ خلق چېرته روان وي نو ډيوه اوچراغ له يوه يادوه تنوسره وي او نورټول دهغوی په رڼا کښې روان وي اولاره ګوري. که دغه درڼا خاوندان له دوی نه بېل شي ټول په تورتم کښې پاته کيږي او بياڅوک کندې کپرې نشي ليدای، دعقل اوفکر رڼا هم له محدودو اشخاصو سره وي مګر فايده يې عامه وي اوهر چاته لاره ښئې.

يوملت بايد درڼا د خاوندانو قدروکړي او پدې پوه شي چه بې له دوی نه په ټولو باندې تورتم او تياره راځي اولاره ورکيږي.

هغه مشعل چه مونږ ته دلارې تيټ وپاس راښئی او زمونږ مخه رڼاکوي ددوی په لاس کښې دی او دوی پيداکړی، که دوی نه و رڼا نشته اوپه هرقدم کښې دلويدلواو پريو تلو خطرات موجود دی.

# د اسلام درد منو!

عابده! هغه څه چه ته يې په ډېرو وظايفو او نوافلوکښې لټوې دخدای دمخلوق په خدمت کښې ډېر ښه موندل کيږي.

زاهده! څه شی چه ته يې د ځان په وړی کولو اونفلي روژو نيولوکښې غواړې دمساکينو اوفقيرانو په مړولو هم لاس ته درځي.

عارفه! چوپ کښېناستل او د خدای په فکر او ذکر مشغولېدل عبادت دی مګر زوروړو ته حق ويل او حق بيانول ډېرلوی اوستر عبادت دی.

مسلمانه! دقران تلاوت ثواب لري مګر په قران باندې عمل کول فرض دی. ای دتقوی او رياضت خاوندانو تاسې له خپلو کوټنيو سرونه راوباسئ له دې سپينو څادرونو مخونه راښکاره کړئ او په عالم کښې سترګې وغړوئ چه دخدای دمخلوق څه حا ل دی؟ او په څه راز مصيبتونو اخته دي په جهان کښې څه مظالم او څومره بې رحمۍ موجودې دي.

تاسې انصاف وکړئ! چه تسبې اړو ل ډېر ثواب لري که په سروغرموکښې يوې کو ل او يو مسکين مړول؟ په جای نماز باندې قرار کښيناستل ښه دی؟ که د خدای په لاره کښې ستړی کيدل؟

رښتيا ووايا ست چه دبل په خيرات روژه ماتو ل ډېر ثواب لري که خپل ما ل له مسکين اوفقير سره خوړ ل؟

ماپوه کړئ! چه پاک خدای دخيرات او شکرانو په اخستلو ډېر خوشحاليږي؟ که په ورکولوېې؟

راشئ؟ دخدای رضا او داخرت ثوابونه په ګرانو اوسختو کارونوکښې او دمخلوق په خدمت کښې ولټوئ!

يو مظلوم دظالم له منګولو خلاص کړئ، ديوې کونډې په سرپوړنی واچوئ ديوه يتيم اوښکې پاکې کړئ! يوه پوروړی ته پور ورکړئ، ديوه رنځو ر دوا او درمل وکړئ. دغه خواران او غريبان چه دپاک خدای صادق اوساده بندګان دي خپل خدمت ته مه رابولئ او مه يې مريدان کوئ؟ بلکه تاسې ددوی مريدان شئ او خدمت يې وکړئ. د خدای رضا او د خدای جنت په دغه ډول حاصلولی شئ، اوددنيا ګټه په هغه بل صورت لاس ته درځي او درغلی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سبا فکر

هغه څه چه د ریا او تذویر په پردوکښې پټ و اوس څرګندېږي. تراوسه پورې شپه وه، تورتم و، تیاره وه، هېچا هېڅ نه لیدل هرڅه دتورې شپې له تورې پردې لاندې پټ و.

ماته نه لیدې تازه نشوم لیدای، زما په سترګو اوستا په مخ پردې پرتې وې، ماته نه پېژندلی او تاهم خپل ځان نشو پېژندلی، نن د حقایقو له مخې پورنی پورته کېږي اوښه و بد ځان ښکاره کوي، ته په دې پوه شه چه پس لدېنه څوک خپل معایب نشي پټولی، که څوک هرڅومره کوښښ وکړي چه خپل نواقص پټ کړي او ښایسته رنګونه ورپورې ومښي کامیابېدلی نشي. او خوارۍ یې څه ځای نه نیسي.

که څوک هوښیاروي هغه باید دځان اصلاح ته اساساً متوجه شي او ځان ونه غولوي. هغه ودانۍ چه نن سبا نړېږي په آخیرونو نه ټینګېږي او رنګ وروغن یې بیفایدې معلومېږي.

مونږ باید د خپل راتلونکی ژوند دپاره پاخه دیوالو نه جګ کړو او پوخ تعمیر بنا کړو.

له هغه کوره باید واوزو چه نن سبالوېږي او ړنګېږي. سړی باید داسې کورجوړ کړي چه دزامنو او لمسیانو شپې یې په کښې هم تېرې شي او ودانی یې پخه وي.

مطلب دا نه دی چه ټو ل به له کانو او ګټو جوړ شوی وي او دختو په ځای به په کښې سمت لګېدلی وي ځکه چه دغه راز کورونه خواران اوغریبان نشي جوړولی، زما مقصد بل راز کور دی، داسې کورچه یوه خښته به یې هم دظلم او خیانت په پیسو نه وي جوړه شوی اوپه ودانولو کښې یې مظلومان نه وي ازارشوی.

هو! ښه کور هماغه دی چه همسایه ته یې ضرر نه وي رسیدلی او هېڅکله یې دبام واورې دبل په بام نه وي لوېدلی لوی لوی ګناهونه په کښې نه وي شوی، دفساد اوضررفکرونه پکښې نه وي موجود.

ښه کو ر دانه دی چه ښایسته او رنګینې پردې په کښې زوړندې وي اوښه ښه خوراکونه په کښې وخوړل شي یاډېر نفیس سامان اولوازم ولري.

داشیان وي اوکه نه وي مګر پخپل حق قناعت،رحم اوعاطفه، عفت اوفضیلت چه په کوم کورکښې وي هغه ښه کوردی اوهېڅکله نه ورانېږي کوم کورچه اهل اوصالح اولادلري او ماران و لړمان په کښې نه وي قصروي که جونګړه، هغه کورښه کوردی او سعادت په همدغسې کورونو کښې وي.

دغه راز کور خواران او غریبان هم جوړولی شي مګر یوغیر صالح انسان یې هېڅکله نشي پیداکولی.

هرڅوک چه ځانته په دنیاکښې کور جوړوي باید دحمید دابیت واوري:

که دې نکړېه نېکیو ننګ ونام لوړ په دوه چومه دې د ختو مشه بام لوړ

# پخوانۍ ډیوې

کله چه سړی یوازې شي او څوک نه وي نوله خیا ل او تصورسره یې زیات سروکارشي او راز راز فکرونه کوي.

څوک چه له دغې فکري مراقبې سره اشناوي هغه پوهېږي چه انسان په دغسې وخت کښې هرڅه په بل رازویني او دجهان هره ذره ورته سکندري آئینه شي.

په همدغسې مواقعو کښې سړی په پچه خېژي اوکشمیر ویني اودمرغانو په هګیو کښې راز راز نغمې اوري. زه هم په کوټه کښې یوازې ناست وم او فکرویورم، مخامخ یو منقش رف ښکاریده چه هرڅه پکښې ایښې و او زما د خیالاتو له تلون سره یې ډېره مرسته کوله. دغه راز رفونه سړی ددې وخت په ودانیو کښې نه ویني او دپخوا وخت تعمیري

(c) ketabton.com: The Digital Library

وضعیت سرې ته ښئی. داکور که څه هم زوړاو پخوانی دی مګر دبرق مزي ورته راننوتلي دي اوساما‌ن يې هم نوی شویدی دلته پخوانی او اوسنی نوی اوزاړه شیان یوځای شوي او عجیب منظرلري.

دتجدد اونوی عصر آثار اواستازی دې کاله ته راغلی دی مګر دکور ساختمان يې لا نه دی بدل کړی.

په کورکښې که څه هم برق لګېږي مګرپاس په رف باندې دتورو تېلو مسینه ډیوه ایښي ده چه مخصوص نقش ونګار لري او دوه درې طبقې يې تشکیل کړیدی په ځنګ کښې يې یوبل ډول چراغ هم شته چه دشمع بلولو دپاره جوړشوی او اوس په لرو کورنو کښې پیداکېږي هغه خوا ورځنې دخاورینو تېلو لاټین ایښی اوسرې پوهېږي چه دغو چراغو هریوه پخپل وخت کښې داکوررڼا کړی او دې خلقو يې په رڼاکښې ډېرې شپې تېرې کړيدي مګراوس دټولو دوره تېره شویده اودشپې په کوټه کښې برق لګېږي.

زمانه وخت په وخت نوي شیان له ځان سره راوړي مګر زاړه هم ځوک هیسته نه غورځوي اوپه ځکوځایونو کښې ځای ورکوي. داعادت بدعادت نه دی او باید په هر کوراو هر هیوادکښې همدغه عادت جاري وي او ځوک دچا زاړه خدمتونه هېر نکړي مګر کارونه باید وخت په وخت له نوو شیانو نه واخستل شي اوپه کورنو کښې نوې رڼا ګانې پیداشي.

زمانه ښائي چه زاړه شیان له کاره وغورځوي اونوي هم زاړه کاندي چه دغورځولو شي مګرانسانان يې دزمانې په تاخچو او رفونو، دتاریخ په پاڼوکښې ساتي او په اوچتو ځایونوکښې يې ږدي.

هغه چاچه لمړی ځل دتېلو خاورینه ډیوه بله کړی دبرق له مخترع نه يې پوهان په کمه ستړګه نه ګوري او قدريې کوي.

انسان اوجهان په هروخت اوهرحا ل کښې یوې رڼا ته محتاج دی او دارڼا وخت په وخت خپل شان اوصورت بدلوي اوپه ظروفو کښې يې تغیرراځي دهمدغه بدلون اوتغیر په اثرانسان دعلم و معرفت په لوړوالی اودپوهې په زیاتو لو او تجلی کښې زیار کاږي.

هغه چا چه دخاورو ډیوه جوړه کړی او هغه چه دمسو ډیوه سازه کړیده یائې دښیښې په فانوس کښې کومه شمع لګولې ده دبرق اوبریښنا ترمخترع پورې هریوه کوښښ کړی چه درڼا دپاره یوه وسیله پیداکړي او دبشرتیاره خونه رنا کړي.

دوی هریو د نور او رڼا پالونکي او روزونکي دي چه دبصیرت خاوندان ورته په ډېر قدر اواحترام ګوري.

هغه رڼا چه دخاورو له تېلوپیداکېږي هغه نورچه له لمر اوسپوږمۍ څخه راځي، هغه برق چه داوبوله جریانه حاصلېږي يې دظرف اومحل له تبدیله څه ډېر فرق نلري.

که ځوک په دغو ظاهري صورتو نو نه غولېږي دغو نووو احادثو قالبونو او ظروفو ته نه ګوري دشړشمو او پنبې په بوټو، دغوزانو اوزیتون په ونوکښې یوه رڼا او یو راز تېل موجودی چه په هر راز ډیوه کښې بېل کیفیت پیداکوي.

که سړی هغه تیل چه په ډیوه کښې ويني په پنبه کښې وويني یا دغه سېزونکی برق چه په برقي نغریو کښې ګوري په اوبو کښې ولیدای شي، هغه ته اور او اوبه دومره فرق نه لري او د جهان په هره ذره کښې یوه رڼا ويني چه حتی د صحرا په کاڼو کښې يې هم پیدا کولی شي.

هغه نورچه کلیم په کوه طورکښې لیده دزیتون په هره ونه کښې شته مګر محرمانه سترګې غواړي. که دانسان تعقل قوي شي او دحواسو په بندکښې محصور پاته نشي (که څه هم دبشر موجوده علم هماغه رڼاده چه د حواسو له کړکیو راننوتلي ده او بې له دینه په ده باندې توره شپه ده) په هرشي کښې به یو نور ګوري او دوجود په نړۍ کښې به داتور اوسپین نه وي.

اوس مونږ دحواسوله تاثیر لاندې راغلی یو چه په تېلو غوړلاسونه په پنبه او پندانه وچوو او دسترګو کتل یا لامسه قوه مونږ ته حقیقت بل راز کوي او ظرف و محل راته مختلف انواع اوجناس په مخکښې دروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دغه راز راز لوښی اومنګی چه په هرکورکښې په بېل بېل صورت وينو زمونږ د نظر مانع نشي نو په هر کورکښې ديوې ويالې اوچينې اوبه دي او د ټولو مشرب يودی، که مونږ دسيند اوويالې، کوهۍ اوکاريز واورې اوباران په شکلونو، صورتونو او نومونو ونه غولېږو پوهېږو چه همدغه يوشی په څو نومونو يادوو او زمونږ حواسو راته واوره او باران دوه شيه کړيدی. په حقيقت کښې همدغه يو حلاوت دی چه په خټکی، هندوانه، توت، انګور، ناك، مڼه، شفتالو اونورو کښې بې حلول کړی او په هرمحل کښې يې بېل صورت بېل رنګ بېل خوند بېل نوم پيداکړی دی.

دغه لوی او واړه خمونه چه دبېلو بېلو ميوو او دانو شربتونه او عرقونه پکښې پراته دي ټول يو راز کيف لري او دکجوری او اربشو په مينځکښې څه ډېر فرق نشته.

په دغسې کتنه چه سړی له صورتونو هغه خوا وګوري پوهېږي چه کورت او شړو مبې له يوې غړکې راوتلی دی اومايعات و جما دات زمونږ احساس اوشعور بېل کړی.

هغه وخت چه زمونږتماس له مادياتو نه قطع شي او مجرد شو ،ښائي چه دنن ورځې علم اومعرفت بل راز شي او دغه رڼا بل شانې ووينو، دنن ورځې تنويري وسايل به لکه ددې کوټې بې کاره ډيوې له کاره ولوېږي اوعلم و پوهه به په نورو قالبونو کښې ځان ښکاره کړي.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Ejtemaie Nazarieyat

www.ulfat.de

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**